# افغانستان

د ۲۰۱۰ کال شپږ میاشتني راپور

## په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنه



REUTERS/Bob Strong

یوناما، بشري حقونه
کابل، افغانستان

د افغانستان نقشه




Source: UN Cartographic Centre, NY

# افغانستان

## په وسله واله شخړه کې د ملکی وګړو د ساتنې په اړه
## د ۲۰۱۰ کال شپږ میاشتنی راپور

یوناما

یوناما، بشري حقونه
کابل، افغانستان
اګست، ۲۰۱۰

## ژمنتيا

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا په افغانستان کې په پوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله ۶ میاشتنی راپور تیار شوی، چې د ۲۰۱۰ د جنوری د میاشتې د لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې دوره تر پوښښ لاندې نیسي. دا راپور د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) شمیرې پریکړه لیک پر اساس د یوناما د ژمنی سره سم راغونډ شوی دي، څو د ملکی کسانو د وضیعت څارنه وکړي، د هغوي د ساتنې په موخه د هڅو همغږۍ وکړي، حساب ورکونه ښه کړي، او د افغانستان د اساسي قانون د اساسي ازادیو او بشري حقونو د مقرراتو او همدارنګه د هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان تصویب کړي دي، په خاص ډول هغه میثاقونه چې د ښځو له خوا د هغوي د بشري حقونو څخه برخمن کیدل تضمینوي، د بشپړ پلي کیدو د پروسې سره مرسته وکړي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې په ملکي کسانو باندې د شخړې د اغیزو د راکمولو په موخه یو شمیر فعالیتونه په لاره اچولی. په دې فعالیتونو کې د هغو پیښو په اړه خپلواکه او بې پرې څېړنه چې د ملکي وګړو د وژلو او ټپي کیدو سبب شوی، د ملکي تلفاتو د ساتنې د پیاوړې کولو په موخه وکالتي فعالیتونه او هغه نوښتونه چې موخه یې د شخړې د ښکیلو ټولو خواوو له خوا د نړیوالي بشرپالنې او د بشري حقونو د قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون درناوي دی، شامل دي.

## میتودولوژي

د یوناما د بشري حقونو څآنګه د ملکي تلفاتو د راپورونو څېړنه د یو شمیر زیاتو سرچینو او اطلاعاتو په نظر کې نیولو له لارې ترسره کوي چې د باوریتوب پخاطر ارزول شوی دی. د هرې پېښې د څېړنې او ارزونې په ترسره کولو کې، د یوناما د بشري حقونو څانګه زیار باسي چې معلومات د زیات شیمر سرچینو لکه د عیني شاهدانو او په مستقیمه توګه د اغیزمن شویو کسانو، پوځي فعالینو (د افغان حکومت او نړیوالو ځواکونو)، کلیوالو، د ولسوالیو او ولایتي چارواکو، مذهبي او د ټولنې د مشرانو په شمول، او همدارنګه د هغو اطلاعاتو په شمول چې په مستقیمه توګه د ساحوي کتنوُ د روغتونونو او کلنیکونو د لیدنې، ویډیويي انځورونو، د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت د ډیپارتمنټ او د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو د راپور، د نورو خپروندیه منابعو، ډله ییزو رسنیو د راپورونو او د انجوګانو او نورو دریمو ډلو له خوا راغونډو شویو اطلاعاتو سره تدقیق او تایید کړی.

چیرې چې ممکن وي، تحقیقات د قربانیانو یا د پیښې د شاهدانو او همدارنګه د پیښې پر مهال د څېړنو پر ابتدایي شاهدي متمرکز وي. په ځینو مواردو کې، د امنیتی اړوندو محدودیدتونو له امله دې ډول تحقیقاتو ته لاس رسي شونی نه وي. په داسې حالاتو کې، د یوناما د بشري حقونو څانګه د اطلاعاتو د تر لاسه کولو په موخه د اعتبار لرونکو شبکو او یو شمیر تخنیکونو له لارې، په یو شمیر زیاتو سرچینو چې د اعتبار او باوریتوب په موخه ارزول شوی وي، تکیه کوي.

چیرې چې د یوناما د بشري حقونو څانګه د یوې خاصې پیښې د اطلاعاتو په هکله باوری نه وي، د هغې پیښې په هکله راپور نه درج کیږي. په ځینو مواردو کې، څېړنې ښایي څو اونۍ وخت ونیسی څو پایلې تر لاسه شي. دا په دې مانا ده چې د ملکي کسانو د تلفاتو په هکله پایلې چې د یوې ځانګړې پیښې څخه را ولاړیږی ښایي د نویو اطلاعاتو په رارسیدو سره بدلون ومومي او بیا په ارزونه کې ځای شي. په دې صورت کې، چیرې چې اطلاعات روښانه او واضح نه وي، او د قناعت وړ نور شواهد تر لاسه نه شي، د پیښې په هکله نتیجه ګیري نه کیږی او پیښې ته به احصاییوي راپور کې ځای نه ورکول کیږی.

په ځینو پیښو کې چی د یوې پیښې د راپور ورکړل شویو قربانیانو غیر نظامي موقف په قطعي توګه نشي معلومیدلای او یا د منازعې وړ وي، په داسې مواردو کې د یوناما د بشري حقونو څانګه د بشرپالنې د نړیوال قانون د نافذه معیارونو څخه کار اخلي او د جګړې نارینه کسان د ملکي کسانو په ډول نه مني. په بل عبارت دا ډول ادعاګانې د پوښتنې لاندې پیښې په هکله د موجوده حقایقو پر بنسټ ارزول کیږي. که چیرې د یوه څخه د زیاتو قربانیانو غیر نظامي موقف روښانه نه وي، داسې مړینې د سراسري ملکي تلفاتو په شمیر کې نه شاملیږي.

په افغانستان کې په پوځي شخړو کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د بشري حقونو د څآنګې د راپور ورکولو د پروسې د ملاتړ په موخه د ۲۰۰۹ د جنورۍ په میاشت کې یو بریښنایي ډیټابیس جوړ شو. دا ډیټابیس د دې لپاره تیار شوی څو د اطلاعاتو د سیستماتیک، یوه بڼه ییز او په موثره توګه راغونډولو او ارزونې لپاره، او د عمر او جنسیت په اساس د هغوي د ویشلو په ګډون، امکانات برابر کړي. د فعالیتي چاپیریال سره د تړلو محدودیتونو له امله، لکه د ځینو عملیاتو د ګډ ماهیت او په ځینو حالاتو کې د ابتدایي سرچینو د نه توان له امله چې په ښه توګه د پوځي فعالینو او یاغیانو ترمنځ توپیر نه شی کیدای، د یوناما د بشري حقونو څانګه د خاصو پیښو په اړه مسوولیتونه نه بیلوي، او هغه یا حکومت پلوه یا حکومت ضد خواوو ته منسوبوي. یوناما د هغو احصاییو په اړه چې په دغه راپور کې راغونډې شوي د بشپړ والی ادعا نه کوي، د فعالیتي چاپیریال سره د اړوندو نښتو محدودیتونو په پام کې نیولو سره، ښایي د یوناما بشري حقونه د ملکي کسانو تلفات کم وښیې.

## د شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسولیتونه

د یوناما د بشري حقونو د څانګې د موقف او دریځ په حواله، په افغانستان کې پوځي شخړه یوه داخلي پوځۍ شخړه ده چې په کې د افغانستان حکومت او د هغه شریکباني، د نړیوالو نظامي ځواکونو په شمول، چې د حکومت ضد عناصرو سره په شخړه کې ښکیل دي، شامل دی. حکومت ضد عناصر هغه انفرادي کسان او د بیلا بیلو سابقی لرونکی پوځي ډلې، تحرکات او د قوماندي جوړښتونه لکه طالبان، د حقاني شبکه، اسلامي ګوند او داسې نورې ډلې په بر کې نیسي.

په افغانستان کې د پوځي شخړې ټول داخلي اړخونه د نړیوال قانون لاندې د ملکي کسانو یا د غیر نظامي کسانو د ساتنې مسولیت لري او همدارنګه دوې باید په ملکي کسانو او ملکي جوړښتونو د خپلو عملونو اغیزې راتیټې کړي. دریمه ماده، چې د ۱۹۴۹ کال د ژنیو په ۴ واړو کنوانسیونونو پورې اړه لري، په پوځي داخلي شخړو کې د یوې پوځي شخړې د ټولو اړخونو لپاره لږ تر لږه معیارونه رامنځ ته کوي. دریمه مشترکه ماده د بشرپالني قانون هغو وضیعتونو ته غځوي چې د یوه خپلواک هیواد په قلمرو کې واقع کیږي، دا نه یوازې د هیواد په دولتي فعالینو بلکه همدارنګه په هغو انفرادي فعالینو چې په شخړه کې ښکیل دي، الزامی دی.

د نړیوالې بشرپالنې د قانون عنعنوي قواعد هم د شخړې په خواوو د تطبیق وړ دي. نړیوالو قضایي ارګانونو څرګنده کړې چې د ژنیو په کنوانسیونونو او اضافي پروتوکولونو کې یو شمیر قواعد د عرفي نړیوال قانون برخه ده. دا د سره صلیب د نړیوالې کمیټې (آی سی ار سي) له خوا تایید شوي او نتیجه ګیري کوي چې د ژنیو د کنوانسیونونو یو شمیر قواعد او اضافي پروتوکولونه د عرفي نړیوال قانون حمایت له څانه سره لری، او همدارنګه د دې قوانینو زیاتره برخه په نړیوالو او داخلي شخړو کې د تطبیق وړ ده، (آی سی آر سي، د بشرپالني عنعنوي نړیوال قانون، ای ډی، جین- ماری هنګ آر او لویس ډوس والد- بیک: د آی سی آر سی څیړنه (CUP/ICRC, Cambridge 2005)
په دې قواعدو کې لاندې موارد شامل دي:

- توپیر: ملکي کسان د برید په وړاندې تر هغه وخته او هومره مودی پوری محفوظ دی چې هغوي په مستقیم ډول په شخړو کې برخه وا نه خلي، او برید (ونه) باید د ملکی شیانو په وړاندې و نه کارول شي. د آی سی آر سی څیړنه، ۶ او ۷ قوانین.
- تناسب: د داسې برید ترسره کول چې ښایي په ضمنی ډول د ملکی وګړو د له منځه تللو، د ملکي کسانو د ټپي کیدلو، ملکي شیانو ته د زیان اوښتلو او یا د دواړو سبب شی، چې کیدای شي دا تاوان د مشخص او مستقیم پوځي پیش بینی شوي پرمختګ په پرتله ډیر زیات وي، منع دی. د آی سی آر سي څیړنه، ۱۴ قانون.
- په برید کې مخکیني احتیاط: د پوځي عملیاتو په ترسره کولو کې، باید په دوامداره توګه احتیاط وشی چې ملکی ټولنی او ملکی افراد، او ملکي شیان په نښه نه نشی، او په هره واقعه کی باید د ملکي وګړو د ژوند خطر، د ملکي کسانو ټپي کیدو خطر او د ملکی شیانو ته د زیان اوښتلو خطر راکم کړای شی.. د آی سي آر سي څیړنه، ۱۵ قانونه.

د بشرپالنې د نړیوال قانون سربیره، په افغانستان کې نور قوانین هم پلې کیږي. یاغیان، کله چې د جګړې څخه د باندې وي، د اړونده هیواد د جنایي قانون لاندې د عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي. د نړیوالو بشري حقونو معیارونه چې د هیواد له خوا تصویب شوي وي او د عرفی نړیوال قانون یوه برخه جوړوي، د پوځي شخړو په وضیعتونو کې د پلې کیدو وړ دي. د حکومت پلوه پوځي ځواکونو غړي هم د نړیوالې بشرپالني او بشري حقونو د قانون او همدارنګه د هغوي د دخیلو هیوادونو د ملي قوانینو د سرغړونې په برخه کې باید حساب ورکوونکی وي.

په افغانستان کې د موجوده نړیوالو ځواکونو ټول مرسته کوونکي هیوادونه، د ایساف، متحده ایالاتو ځواکونه (افغانستان) د ازادی د دوامداره عملیاتو ایتلافی ځواکونه یا هغه ځواکونه چې د قوماندې د دغو کړیو څخه د باندې واقع کیږي، د ۱۹۴۹ کال د ژنیو څلور میثاقونه لاسلیک کړې دي. په داسې حال کې چې د عسکرو ورکولو ټولو مرستندویو هیوادونو د۱۹۷۷ کال لومړی اضافی پروتوکول نه دی لاسلیک کړی، هغوی بیا هم د بشر پالنی د نړیوال قانون د اصولو پواسطه چې د عرفی نړیوالو قوانینو برخه ده، مسوول دي.

د پوځي شخړو پرمهال د ملکي کسانو د ساتنې مسوولیت د افغانستان د حکومت لومړنی دنده ده. د پوځي شخړې ټولی خواوې د نړیوال قانون لاندې د ملکي کسانو د ساتنې مسوولیت لري. افغانستان د ۱۹۴۹ کال راهیسی د ژنیو څلور کنوانسیونونه لاسلیک کړي او همدارنګه د نړیوالې بشرپالني د قانون د هغو قواعدو په واسطه چې د نړیوال عنعنوي قانون یوه برخه جوړوي، د ملکي کسانو د ساتنې مسوول دي. افغانستان همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق

لاسلیک کړی، دا میثاق د افغانستان حکومت دې ته ژمن کوي چې د هیواد په د ننه کې او یا د هغه تر قانوني واک لاندې سیمه کی د ټولو خلکو د ساتنې په موخه اساسي خدمتونه رامنځ ته کړي.

د افغانستان حکومت دنده او مسولیت لري چې د ټول هیواد په کچه د قانون له تطبیق او نظم څخه ډاډ حاصل کړي. د افغانستان حکومت حق او دنده لري چې د نړیوال قانون په رعایت سره د هیواد هغه قوانین چې یی منلي یا الزامی دي، پلي کړي.

## د لغاتو قاموس/لغت نامه

**AGE:** دولت ضد عناصر. هغه ټول انفرادي کسان او ډلې دي چې اوس مهال د افغانستان د حکومت او نړیوالو پوځي ځواکونو پر وړاندې په پوځي شخړه کې ښکیل دي. په دوی کې هغه کسان چې ځان ته طالبان وايي او همدارنګه هغه انفرادي کسان او ډلې چې د یو شمیر موخو په واسطه تحریک شوې او یو شمیر نښې یې غوره کړې، شامل دي.

**هوايي بریدونه:** د الوتکي یا الوتونکو نورو وسایلو څخه ډزې، د نږدې هوايي ملاتړ په شمول (د فوري ګواښ لاندې د واحدونو او عسکرو ملاتړ) او یا د ثابتو وزر لرونکو الوتکو څخه.

**ANA:** افغان ملی اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه. د افغان سرحدي پولیس، افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیسو او ملي امنیت د ریاست لپاره پراخه اصطلاح ده.

**BBIED:** په ځان پورې تړلی تعبیه شوي چاودیدونکي توکي.

**تلفات:** ښايې دوه ډوله وي:

- **مستقیم:** هغه تلفات چې په مستقیم ډول د پوځي شخړې څخه راپورته کیږي او د هغو پوځي عملیاتو په شمول چې د حکومت پلوه (د افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو) لکه د قوي د ساتني د پیښو، هوايي بریدونو، تلاشیو، د نیولو پیښو او د یاغیتوب په وړاندې ترسره کیږي، شامل دي. په دې کې هغه تلفات چې د حکومت ضد عناصرو د فعالتیونو لکه عمدي وژنې، VBIED, IED او BBIED او یا د حکومت پلوه ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې رامنځ ته کیږي هم شامل دی.
- **نور:** دا ډول تلفات په غیر مستقیم ډول د شخړې څخه او د جګړې څخه د پاتې ناچاودو توکو، په بندې خانو کې د مړینو، د طبي پیښیدونکو حالاتو څخه د مړنیې له امله چې د پوځي عملیاتو پر مهال واقع کیږي یا چیرې چې د طبی پاملرنې د لاس رسي څخه مخنیوی کیږي، واقع کیږي. په دې کې همدارنګه هغه مړینې چې په روښانه توګه د مسوولیت د نه تعیین کیدو له امله واقع کیږي شاملې دي. په پای کې، په دې کې هغه تلفات چې د قومونو او یا نژادي شخړو له امله رامنځ ته کیږي، هم شامل دي.

**CID:** د جنایي څیړنو څانګه

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د میثاق مطابق، یو ماشوم د هر هغه شخص چې عمر یی له ۱۸ کلونو څخه ټیټ وي تعریف شوی، (له صفر څخه تر ۱۷ کلونو پوری، د ۱۷ په شمول). د ماشومانو لپاره د تپي توب ارقامو راپور احتمالا د دې لپاره نه ورکول کیږی چې د تپي کسانو لپاره د عمر معلومات زیاتره موجود نه وي یا نه ثبت کیږي.

**ملکي/ غیر نظامي:** هر څوک چې په دښمنیو کې فعاله ونډه نه اخلي. په دې کې ټول ملکي کسان همدارنګه عامه کارکوونکي چې د پوځي موخو لپاره په شخړه کې نه کارول کیږي، ښوونکي، روغتیايي کارکوونکي او هغه کسان چې د عامه خدمتونو په ترسره کولو کې ښکیل دي، او همدارنګه سیاسي او د دفترونو کارکوونکي احتوا کوي، شامل دي. په دې کې همدارنګه هغه سرتیری یا هر بل څوک چې د جګړې د میدان څخه د ټپی کیدو یا د تسلیمیدو یا هم د هر بل لامل له مخې په شخړو کې د فعالی برخې اخیستنې څخه ډډه وکړی، شامل دی. په دې کې هغه کسان چې ښايي د ملکي پولیس پرسونل یا د پوځ غړی وي چې د یاغیتوب ضد عملیاتو کې له هغوي څخه کار نه اخیستل کیږي، شامل وي.

**COIN:** د یاغیتوب ضد هڅی

**COM-ISAF:** د ایساف قوماندان ؛ ایساف وګورئ
**د خبرداری د نه مراعاتولو په صورت کی د زیاتي قوې د کاروني پیښې (EOF incidents):** دی ته د زیا ت ځواک د کارولو پیښی اوهمدارنګه "د ځواک د ساتنې" پیښې هم وایی : په داسې حالاتو کې چې ملکي کسان د پوځي کارکوونکو له اړخه د خبرداریو او هدایاتو عملی کولو کی پاتی راځی مثلاً کله چی پوځي کاروانونو ته ورنږدې کیږي او یا د هغوي څخه سبقت کوی، او یا د تلاشي پوستو کې لارښوونی پام کې نه نیسی، کیدای شي د قوی د ساتنې پیښې رامنځ ته شي. همدا

رانګه د قوی نه هغه وخت کار اخیستل کیږی چې انفرادي کسان پوځي اډو یا تاسیساتو ته ډیر زیات نږدې شي او د پوځي کارکوونکو له اړخه خبرتیاوو تعقیب نه کړی.

**GoA:** د افغانستان حکومت

**IDP:** داخلي بېځایه شوي وګړي

**ICRC:** د سره صلیب نړیواله کمیټه

**IED:** تعبیه شوي چاودیدونکي توکي. هغه بم چې ددې لپاره جوړ شوی او تعبیه شوی وي چې دعام نظامی عمل څخه پرته ورڅخه کار واخیستل شی. تعبیه شوي چاودیدونکو توکي همدارنګه کیدلای شی چې د ځان مرګو بمونو په شکل، په بدن پورې د نښتو تعبیه شوو چاودیدونکو توکو، د لیرې څخه د کنترول کیدونکی بم، یا په نقلیه وسیلی پورې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په شکل کې وي.
**پیښې:** هغو پیښو ته وایي چې د پوځي شخړې له امله ملکی کسانو ته تلفات واوړي. هغه تلفات چې د جنایي فعالیتونو په نتیجه کې په راپورونو کې راځي د یوناما د بشري حقونو د څانګې په راپور کې ځای نه نیسي.

**IMF:** د نړیوالو پوځي ځواکونو په تشکیل کې هغه ټول بهرني سرتیری چې د ایساف او افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ځواکونو (او ای پی په شمول) څوک چې د ایساف د قوماندان (COM-ISAF) تر قوماندې لاندی دی، شامل دي.

**ټپونه:** په دې کې د بیلا بیل جدیت فزیکی ټپونه شامل دي. د ټپونو د شدت کچه د یوناما د بشري حقونو په ډیټابیس کې نه ده ثبت شوی. په ټپونو کې د صدمه او شاک او روانی صدمی نه دي شاملې.

**ایساف:** په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د میثاق د VII څپرکی لاندې د سولې د ټینګښت ماموریت لري. دا ځواک د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د صلاحیت له مخې په هیواد کې میشت دی. د ۲۰۰۳ په اګست کې، ناټو د ایساف څخه د ملګرو ملتونو او د افغانستان د حکومت په غوښتنه قومانده تر لاسه کړه. په اوس حال کې د ناټو ځواک د ۴۶ سرتیری ورکوونکو هیوادونو څخه د ټول ټال ۱۱۹۷۴۵ سرتیرو څخه جوړ شوی ځواک دی چې د قوماندې په ۶ سیمو کې تنظیم شوي دي. د ۲۰۰۸ کال د نومبر د میاشتې راهیسی، د ایساف قواماندان د افغانستان، د متحده ایالاتو د قوماندان په حیث که څه هم چې د قوماندې کړي یی بیلې دی، دنده اجرا کوي.

**KSF:** د کندهار ضربتی ځواک

**LDI:** د محلي ساتنې نوښت.

**ناټو:** د شمال اتلانتیک سازمان. ایساف ته د ناټو سازمان غړي هیوادونه د سرتیرو د ګمارلو اصلي ورکونکي هیوادونه دي، ایساف ته مراجعه وکړئ.

**NDS:** د امنیت ملی ریاست، د افغانستان د استخباراتو ملی اداره

**OHCHR:** د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر

**OEF:** د آزادئ د پایښت لپاره عملیات. د ازادئ د پایښت لپاره د عملیاتو اصطلاح د امریکا د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د جګړې په وړاندې د خپلې برخې اخیستنې لپاره په رسمی توګه وکاروله. د یادونې وړ ده چې د پایښت لرونکې آزادئ عملیات د امریکا او افغانستان ګډ عملیات دی او دا عملیات د ایساف د عملیاتو څخه کوم چې د ناټو هیوادونو، د امریکا او نورو سرتیری ورکوونکو هیوادونو په شمول دی، بیل دی. زیاتره امریکایی ځواکونه چې د پایښت لرونکې آزادئ د عملیاتو لاندې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر د میاشتې راهیسې عملیات ترسره کوي د افغانستان د امریکایې ځواکونو سره یو ځای شوی (لاندې مراجعه وکړئ) چې د جنرال مک کرستل د قوماندی لاندې کار کوي چې په عین حال کې د ایساف قوماندان هم دی، ځینې خاص ځواکونه بیا تر بلې جلا قوماندې لاندې هم کار کوي.

**OGA:** نوري حکومتي نمایندګۍ. دا اصطلاح ځینو امنیتي فعالینو لکه سي آی اي (د مرکز ي استخباراتو اداره) چې د پوځي قوماندې د منظمو کړیو لاندې عمل نه کوي، کارول کیږي. دا روښانه نه ده چې د داسي نمایندګیو د قوماندې مسولیت له چا سره دی.

**حکومت پلوه ځواکونه (PGF ):**

- **د افغانستان د حکومت ځواکونه.** هغه ټول ځواکونه دي چې په ټولو پوځي یا ملیشایي یاغیتوب ضد عملیاتو کې عمل کوي او په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د افغانستان د حکومت تر کنټرول لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملي امنیت ریاست شامل دي، خو دا تر دې ځواکونو پورې محدود نه دي.
- **نړیوال پوځي ځواکونه (IMF)** او OGA

**RCIED:** له لیرې څخه کنټرولیدونکی تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، IED ته مراجعه وکړئ.

**TCN:** سرتیري ورکوونکي هیوادونه

**د افغانستان امریکایي ځواکونه:** یا "USFOR-A" دا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو لپاره د وظیفوي قوماندې او کنټرول مرکز دی. د افغانستان امریکایي ځواکونو قوماندە د جنرال مک کرستل، چې په عین حال کې د ناټو/ایساف قوماندان هم دی، په غاړه ده. د دغه نوی ترکیب لاندې چې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په میاشت کې رامنځ ته شو، امریکایي ځواکونه چې د ازادۍ د پایښت لپاره عملیات د یوې برخې په حیث کار کوي، د "USFOR-A" د عملیاتي کنټرول لاندې راغلل. د ایساف او OEF د قوماندې کړۍ بیلې او واضح دی او د متحده ایالاتو مرکزی قوماندە د متحده ایالاتو د تروریزم ضد او توقیف شویو کسانو عملیاتو ته دوام ورکوي.

**VBIED:** په نقلیه وسیله کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي

## د مطالبو فهرست


لنډیز............................................................................................................ i
سپارښتنې........................................................................................................ iv
د حکومت ضد عناصر او د ملکي خلکو ساتنه .................................................................... 1
عمومي نظر ............................................................................................................. 1
تعبیه شوې چاودیدونکې وسیلې او ځانمرګي بریدونه....................................................... 2
د ډاروني تاکتیکونه: تښتوني، وژني، اعدامونې، د تلاشی ناقانونه پوستې او شب نامې.............. 6
پر ښځو او ماشومانو باندې بریدونه ................................................................................ 10
حساب ورکونه ........................................................................................................ 11
دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه ..................................................................... 12
عمومي کتنه............................................................................................................ 12
د نظامي تاسیساتو موقعیت ......................................................................................... 13
د پراخې کچې نظامي عملیات........................................................................................ 14
د تلاشی او نیونو عملیات/ د شپې بریدونه....................................................................... 16
د خبرداری د نه مراعاتولو په صورت کی د زیاتې قوې د کاروني پیښې................................ 20
هوایي بریدونه........................................................................................................ 22
د مرګ ژوبلو او د شتمنیو د زیان په مقابل کې د خسارې جبران ........................................... 24
د ملکي تلفاتو په وړاندې د افغانستان د حکومت غبرګون ................................................... 25
حساب ورکونه ........................................................................................................ 25
ضمیمه................................................................................................................. 28
د ملکي تلفاتو په اړه اضافي ګرافونه............................................................................ 28

## لنډیز

په افغانستان کې د پوځي شخړې انساني زیان په ۲۰۱۰ کې زیات شوی دی. د کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو کچه د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په تناسب ۳۱ ٪ زیاته شوې ده. د ټولو ملکي تلفاتو دریمه برخه د حکومت ضد عناصرو ته نسبت ورکړل شوی او دا ارقام د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۵۳ ٪ زیاتوالی ښيی. په عین حال کې د ۲۰۰۹ کال د لومړیو ۶ میاشتو په پرتله حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په کچه کې ۳۰ ٪ کموالی راغلی دی.

د یوناما د بشري حقونو څآنګې په ۲۰۱۰ کې دوه مهم پرمختګونه چې د ملکي کسانو ژوند ته یې خطر متوجه کړي، مشخص کړي. لومړی، د حکومت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د وژنو او اعدامونو د شمیر په هکله اندیښنه، دوهم، د هیواد په کچه د تعبیه شویو پیچلو او پرمختللو چاودیدونکو توکو زیات کارول. د دغو تخنیکونو انساني ناوړه اغیزې د دې خبرې تایید کوي چې په ۹ کلنه شخړه کې د ملکي کسانو د موثرې ساتنې اندازه، او همدارنګه د پخوا په پرتله د اساسي بشري حقونو په هکله د شخړې د اغیزې په موازې توګه راکمول تر بل هر وخت څخه زیاتې بیړنۍ مسالې دي.

د روان کال د جنورۍ د میاشتې د لومړۍ نیټې څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې د یوناما د بشری حقونو څآنګې ټول ټال ۳۲۶۸ ملکی تلفات چې د هغو له جملې څخه ۱۲۷۱ مړیني او نورې ۱۹۹۷ ټپیان دي، ثبت کړې دي.[1] حکومت ضد عناصر د ټول ټال ۲۴۷۷ ملکی کسانو د وژنې او ټپي کیدو یا د همدې مودې لپاره د ملکي کسانو د ټول ټال شمیر ۷۶ ٪ مسولیت لري. ځانمرګي بریدونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو حکومت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو د زیاترې برخې، یعنې ۵۵۷ مړینو (د ملکي کسانو وژنو ۶۱ ٪ حکومت ضد عناصرو ته منسوب شوي) او ټول ټال ۱۱۳۷ ټپي کیدنو (د ملکي کسانو ۷۳ ٪ حکومت ضد عناصرو ته منسوب دی)، لامل ګرځیدلی دي.

په ورته موده کې، د یوناما د بشري حقونو څانګې ټول ټال ۳۸۶ ملکي تلفات ثبت کړي (د ټول ټال ملکی تلفاتو ۱۲ ٪) چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي، چې د ۲۰۰۹ کال د لومړیو ۶ میاشتو په پرتله ۳۰ ٪ کموالی ښیئ. زیاتره ملکی تلفات د هوایي بریدونو په ترځ کې رامنځ ته شوي چې ۶۹ وژنې (د ملکی تلفاتو ۳۱ ٪ حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کيږي) او د ۴۵ کسانو ټپي کیدل (د ملکی کسانو ۲۰ ٪ حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کيږی) حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کيږي.

لکه څنګه چې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې، د ۲۰۰۹ کال په پرتله ښځې او ماشومان د دغو تلفاتو لویه برخه ده. ښځو او ماشومان سربیره پر دی چې د شخړې په متاثره شویو سیمو کې د هغوي د اساسي بشري حقونو د پراخې سرغړونې سره مخ دی، د تحفظ نشتوالی سره هم مخ دی. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ د میاشتې څخه د جون تر میاشتې پورې د ښځو تلفات ۶ ٪ لوړ شوی او د ماشومانو تلفات د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۵۵ ٪ لوړ شوي. یوناما جوته کړې ده چې ټول ټال ۱۲۰ ښځې وژل شوی او ټول ټال ۱۵۱ نورې ټپیانې شوې دي، او د پوځي شخړو په نتیجه کې ۱۷۶ ماشومان وژل شوي دي او نور ۳۸۹ ټپیان شوی دي. د ۲۰۱۰ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د حکومت ضد عناصرو په ځانمرګی بریدونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په بریدونو کې زیاترو ښځو او ماشومانو ته تلفات اوښتي دي.

د ۲۰۰۹ د لومړیو ۶ میاشتو په پرتله د ۲۰۱۰ کال د لومړیو ۶ میاشتو په ترځ کې ټول ټال ۱۲۷۱ ملکي تلفات ثبت شوی چې نږدې ۲۱ ٪ لوړوالی په ډاګه کوي. په ټولیز ډول، د ۲۰۰۹ کال د لومړیو ۶ میاشتو د ۴۸ ٪ ارقامو په پرتله، ۹۲۰ یعنې د ملکي تلفاتو ټول ټال (۷۲) حکومت ضد عناصرو ته منسوب شوی. د ۲۰۰۹ د

[1] د یوناما د بشري حقونو څانګې د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو هغه پیښې چې د هغوي ساحوي دفترونو ثبت او د بیلا بیلو سرچینو په مرسته دوباره کتلې او مستند کړی کومې چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه بیا د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې واقع شوې ثبت او د ملکی کسانو په هکله په خپل تحلیل او راپور کې ځای کړی دي. د یوناما د بشري حقونو څانګه د هغې احصایي چې په دغه او پخوانیو راپورونو کې وړاندې شوې د بشپړوالی ادعا نه کوي، په میتودولوژي او فعالیتي چاپیریال کې د محدودیتونو په پام کې نیولو سره، کیدای شي د یوناما د بشري حقونو څانګې د ملکي تلفاتو شمیر کم ښولې وي، د دغه راپور د میتودولوژي برخې ته مراجعه وکړئ. په افغانستان کې د ملکی تلفاتو په هکله اطلاعات کوم چې د ویکي لیکس په ویب پاڼه باندې خپاره شول د ۲۰۰۱- ۲۰۰۴ کلونو موده تر پوښښ لاندې نیسي او د یو شمیر سرچینو څخه په زرګونو اسناد ښیې. د یوناما د بشري حقون څانګه دغه مواد د پخوانیو راپور شویو دوسیو او همدارنګه د ملکي تلفاتو ټولې دوسیې چې په دغه اسنادو کې ورته اشاره شوې د نویو معلوماتو د لاسته راوړلو په موخه له سره ګوري.

ملکی تلفاتو د ۱۸ ٪ ارقامو په پرتله ۲۲۳ مړيني يا د ملکی کسانو ټول ټال ۱۸ ٪ وژنې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی. د یوناما د بشري حقونو څانګه نه شي کولای پاتې ۱۲۸ مړينې يعنې ۱۰ ٪ حکومت ضد يا حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبې کړي.

د حکومت ضد عناصرو له خوا د ۲۰۱۰ کال په لومړيو ۶ مياشتو کې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو کارول هغه وژونکی تاکتيک وو، چې د ملکي کسانو د ۲۹ ٪ تلفاتو باعث شو، خو ځانمرګو بريدونو، وژنو او اعدامونو هم د ۱۴ ٪ ملکي کسانو ژوند واخيست. د یوناما د بشري حقونو څانګې د ځانمرګو بريدونو له امله د ۱۸۳ ملکي تلفاتو او د وژنو او اعدامونو له لارې د ۱۸۳ ملکي تلفاتو پيښې ثبت کړې دي. په ۲۰۰۹ کې د حکومت ضد ځواکونو له خوا د ښځو د وژنې د ۴۴ ٪ او د ماشومانو د وژنې د ۱۵۵ ٪ پيښو په پرتله د ۲۰۱۰ کال په ۶ لومړيو مياشتو کې ۳۹ ښځې او ۷۴ ماشومان په تعبيه شويو چاوديدونکو توکو او ځانمرګو بريدونو کې وژل شوي.

د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله په ۲۰۱۰ کې د حکومت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د وژل کيدو او اعدامونو لړۍ ۹۵ ٪ زياته شوې ده . د ملکی کسانو وژنې او اعدامونه د هيواد په جنوب کې واقع شوي، او په دې سيمه کې د ۱۰۰ څخه زياتې داسې پيښې ثبت شوې دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله د حکومت پلوه ځواکونو په هوايي بريدونو کې د ملکی کسانو په وژنو کې ۶۴ ٪ ټيټ والی ثبت کړی دی. د ايساف د ۲۰۰۹ کال د جولای د مياشتې تخنيکي لارښود چې موخه يې د هوايي بريدونو تنظيم وه، د ارقامو د کچې د راټيټيدو سره مرسته کړې. په ملکي سيمو کې د هوايي بريدونو کارونې حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شويو ملکي کسانو د وژونې د زياتې فيصدي لامل ګرځيدلی چې په نتيجه کې يې ۶۹ ملکی کسانو ته يا د ۲۰۱۰ کال په ۶ لومړيو مياشتو کې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا ۲۲۳ ملکی کسانو ته چې د ټول ټال شمير ۳۱ ٪ جوړوي، مرګ ژوبله اړولی. د تلاشي او نيولو په عملياتو کې، په ټوليز ډول د شپې له خوا د تلاشيو پر مهال ۴۱ ملکي کسانو (د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي کسانو د وژول کيدو ۱۸ ٪) خپل ژوند له لاسه ورکړی او همدارنګه زيات کسان توقيف ځايونو ته استول شوي دي. د ۲۰۱۰ کال د لومړيو ۶ مياشتو په ترڅ کې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د اجباري پيښو په نتيجه کې ۱۶ ٪ ملکي کسان وژل شوی دي (د حکومت پلوه ځواکونو له خوا په شکمنو حکومت ضد عناصرو باندې بريدونه).

د هيواد په جنوب او جنوب ختيځ کې په ترتيب سره د ملکي کسانو په وژنو کې ۴۳ ٪ او ۲۴ ٪ زياتوالی راغلی دی. د هيواد مخکينۍ ټيکاو لرونکې شمال ختيځې سيمې[2] د حکومت ضد عناصرو د فعاليتونو د زياتوالی شاهدې وې. دغو پيښو د شخړې د شدت سره مرسته کړې ده او د ۲۰۰۹ د ورته مودې په پرتله يې د ملکي کسانو د وژل کيدو په پيښو کې ۱۳۶ ٪ زياتوالی راوستی دي. د هيواد په جنوب کې، د نړيوالو پوځي ځواکونو زياتوالی،[3] له طالبانو څخه د هلمند د ولايت د مارجې او نادعلی د سيمو د بيا نيولو په موخه د افغان امنيتي ځواکونو او نړيوالو پوځي ځواکونو ګډ عمليات يعنی د مشترک د عملياتو پيل، د افغان حکومت په رهبرې او د ايساف د ځواکونو په ملاتړ د کندهار د ښار او شاوخوا سيمو د ټيکاو او د امنيتي حالت د ښه کيدو په موخه د همکارۍ د عملياتو پيل، او د طالبانو له خوا د دغو عملياتو په وړاندې غبرګون د شخړې د شدت سره مرسته کړې چې د ملکي کسانو په تلفاتو کې زياتوالی ښيي.

د هيواد په جنوب کې، حکومت ضد عناصرو، په خاص ډول طالبانو د ملکی کسانو په وړاندې چې د حکومت يا د نړيوالو پوځي ځواکونو لپاره کار کوي يا داسې ګمان پرې کيږي د تهديد او ګواښ کمپاين غځولی او پياوړي کړي دی. په دې کمپاينونو کې وژنې، اعدامونه، تښتونې، شب نامې او ګواښونه شامل دي. د طالبانو له خوا وژنی د ۲۰۰۹ کال د لومړۍ برخې په اونۍ کې د ۳,۶ او په مياشت کې د ۱۵,۶ وژنو له منځنۍ کچې څخه، په اونۍ کی ۷ او په مياشت کی ۳۰،۶ وژنو ته د ۲۰۱ کال په لومړيو څلورو مياشتو کی لوړه شوه. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خونديتوب او امنيت د رياست په حواله، د مۍ او جون په مياشتو کې د ملکي کسانو د تلفاتو کچه په اونۍ کې ۱۸,۰ ته رسيدلې ده. د ملکي کسانو تر هدف لاندې پيښو کې ښوونکې، روغتيايی کارکوونکی، ډاکټران، قومي مشران، د ټولنې مشران، ولايتي او د ولسواليو د کچې چارواکي، ملکی کسان او هغه ملکي کسان

[2] د هيواد د شمال ختيځ ولايتونه دا دي: بدخشان، کندز، بغلان او تخار
[3] د ۲۰۱۰ کالد جولای د مياشتې تر ۷ مې نېټې پورې، ټول ټال ۱۱۹۷۴۵ ايساف- افغانستان ځواکونه په هيواد کې ميشت وه. د نږدې ۷۸۴۳۰ امريکايي پوځونه. د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر د مياشتې تر ۹ نېټې، ټول ټال ۸۴۱۵۰ ايساف ځواکونه په هيواد کې ميشت وه.
سرچينه: .http://www.isaf.nato.int/images/stories/File/Placemats/100706%20Placemat.pdf

چې د نړیوالو ځواکونو او نړیوالو سازمانونو سره کا رکوي، شامل دي. د وژنو مخ پر زیاتیدونکې بیلګه د ملکي کسانو هغه درک ته لا قوت بخښي چې د هر ډول معافیت نه پرته طالبان هر چیرې او هروخت کولای شي خپل ګوزار وکړي او افغان حکومت او نړیوال پوځي ځواکونه د هغوي د خوندي کولو په چارو کې پاتې راغلي.

د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا په ۲۰۱۰ کال کې د تاکتیکي لارښود او د عملیاتو د پلي شویو معیاري طرزالعملونو په وجه چې موخه یې د شپې له خوا د تلاشیو او د قوی د زیاتیدو د برخې اخیستنې د قوانینو په هکله، او د ۲۰۰۹ کال د جولای د میاشتې د تخنیکي لارښود په ملاتړ چې موخه یې د هوایي بریدونو د کچې راکمول وو،د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو کمولو په برخه کې د پام وړ مرسته کړې ده.[4] د یوناما د بشري حقونو څانګې د ملکی کسانو د ساتنی په تړاو د نظامي ځواکونو د ساتنې د تعادل د اړتیا تصدیق کوي، موږ د ایساف د ځواکونو د نوی مشرتابه څخه غوښتنه کوو څو هغه تدبیرونه په بشپړه توګه پلې کړي چې د ملکي تلفاتو د کچې د کمولو او د ملکي کسانو د ساتنې په موخه طرح شوې دي.

د ۲۰۱۰ کال لومړی ۶ میاشتی د ملکي کسانو لپاره چې د پوځي شخړې له امله متاثره شوی یو تیاره او ډارونکې انځور وړاندې کوي. لکه څنګه چې د هیواد په نا آرامه سیمو کې جګړې ډیریږي او د هیواد د شمال، لویدیځ او شمال ختیځ خاصو ولسوالیو ته غځیږي، ملکي کسان د حکومت د شتون د کموالي او د تحفظ د کچی د کموالی موضوع سره مخ کیږي. په عین حال کې، حکومت ضد عناصر چې په زیاتیدونکې توګه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د غیر قانوني زیاتې کارونې، ځانمرګي بریدونو او وژنو له لارې د ژوند د اساسي حق او د توپیر،[5] تناسب[6] او احتیاط[7] د نړیوال بشرپالنې د قانون له اصولو څخه سرغړونه کوی، چې دا قوانین د شخړې دواړو خواوو ،حکومت پلوه ځواکونه او حکومت ضد عناصرو، باندې د تطبیق وړ ده، له دوی څخه غوښتل کیږي چې د ملکی کسانو د ژوند اخیستلو او ټپي کیدو څخه مخنیوی وکړي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه په پوځی شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتې د ۷ نیټې د بیان څرګندونه کوي، په دې بیان کې نوموړی تاکید کړی چې د حکومت ضد عناصرو له خوا د نړیوال قانون منل او د هغه څخه ډاډ لا هم یوه ستره ننګونه ده. په همدې خبرو کې، په افغانستان کی د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی تاکید وکړ چې د افغانستان حکومت او د هغوي نړیوال ایتلافي ځواکونه د غیر نظامي کسانو[8] د امنیت او ساتنې ستر مسوولیت لري. د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتې په ۲۰ د کابل په نړیوال کنفرانس کې د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې دا خبره منلې چې د ملکي کسانو تلفات او د هغوي ساتنه د زیاتې اندیښنې وړ خبره ده، یادونه یې وکړه چې زیاتره ملکي تلفات د یاغیانو د بریدونو له امله رامنځ ته شوي او یادونه یې وکړه چې افغان او نړیوال نظامي ځواکونه د ملکي تلفاتو منظم کمښت ته ژمن دي.[9] ملګری ملتونه د شخړې په ټولو خواوو غږ کوي چې د ملکی کسانو د ساتنې په موخه لارې چارې غښتلې کړي او د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې د ملکی کسانو د ساتنې په موخه خپلو ژمنو ته ځانونه ژمن کړي.

---

[4] د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې په ۴ نېټه، د ایساف ځواکونو قوماندان د ایساف او د متحده ایالاتو د ځواکونو- افغانستان د ملاتړ په موخه د قوی د کره استعمال لپاره د تازه تخنیکي لارښود برابرول وه، صادر کړل. دا موجوده تخنیکي لارښود د ۲۰۰۹ کال د جولای د میاشتې د لارښود ځای نیسي. د ایساف مطبوعاتي پاڼې د نویو تخنیکي لارښود د صادرولو خبر ورکړی او وړاندې توضیح کوي: "په داسې حال کې چې د خپلو عملیاتو په ترڅ کې د بې ګناه ملکي کسانو ژوند ته د زیان د کچې په راټیټیدو ټینګار کوو، په دې لارښود کې همدارنګه د هغوي د ځان ساتنې، د ایتلافي او افغان ځواکونو د ځان ساتنې د چا سره چې موږ اوږه په اوږه کا رکوو، ټینګار شوی. د لارښود یوه غیر رسمي برخې تذکر کوي،" موږ (ایساف) باید خپلو هڅو ته دوام ورکړو یا په بل عبارت د بې ګناه ملکي کسانو د ژوند ژغورولو په موخه خپلې هڅې دوه ګونې کړو. د ملکی افغانانو تلفات (هره وژنه) زموږ هڅې د هیڅ سره مخامخ کوي. که چیرې موږ زیاته قوه استعمال کړو یا د یاغیتوب ضد اصولو په مغایرت کې خپلو هڅو ته دوام ورکړو، کیدای شي تخنیکي بریاوې په ستراتیژیکو ماتو بدلې شي. د ایساف قوماندان نوی تخنیکي لارښود صادر کړ. د ایساف له خوا مطبوعاتي پاڼه، د ۲۰۱۰ د اګست ۴.

[5] توپیر: ملکي کسان د برید په وړاندې تر هغه او د داسې وخت لپاره څو هغوي په مستقیمه توګه په شخړه کې برخه واخلي، ساتلې دي او بریدونه باید ملکی شیانو ته متوجه نه وي. د آی سی آر سي څیړنه، ۶ او ۷ قوانین.

[6] تناسب: د یوه برید پیل چې ښایي ملکي ژوند، ملکي کسانو ټپی کیدو، ملکی شیانو ته د زیان اوښتو یا د هغو د ترکیب له امله ناڅاپي زیان واړوي، کوم چې ښایي د څرګند او مستقیم پوځي اټکل شوی پرمختګ په اړوند شدید وي، منع دی. د آی سی آر سي څیړنه، ۱۴ قانون.

[7] په برید کې احتیاط: د پوځي علمیاتو په ترسره کولو کې باید د ملکي وګړو، ملکی کسانو او ملکی شیانو ساتنې ته پام واړول شي. په هر ډول پیښو کې باید د ملکی ژوند د ناڅاپي تلفاتو، ملکي کسانو د ټپي کیدو او ملکي شیانو ته د زیان اوښتو او مخنیوی په موخه ټول ممکنه احتیاط وکارول شي. آی سی آر سي څیړنه، ۱۵ قانون.

[8] د شخړې په لاملونو پراخ تمرکز، د ملکي کسانو د ساتنی په اړه په خبرو اترو کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي د امنیت د شورا څخه غوښتنه کوي. سرچینه: http://www.un.org/News/Press/docs/2010/sc9973.doc.

[9] د کابل کنفرانس ګډه اعلامیه، د افغانستان په اړه د کابل نړیوال کنفرانس، ۲۰۱۰ کال د جولای ۲۰.

## سپاربښتنې

**د حکومت ضد ټولو عناصرو ته (طالبان او نور ټولي حکومت ضد وسله والي ډلې)**

- طالبان باید ټول هغه دستورونه او بیانیې بیرته واخلي چې د حکومتي چاروکو په ګډون د ملکي کسانو د وژنې تهدیدونه په کې راغلي دي؛ د چلند داسې روښونه غوره کړي او یا نور دستورونه صادر کړي چې په ملکي کسانو هر ډول حملې منع کوي؛ او ومني چې له افغان حکومت او نړیوالو نظامي قوتونو سره د ملکي کسانو همکاري له هر ډول برید څخه باید خوندي وي او د دوي په وړاندې بریدونه په سملاسي ډول بند کړي.
- طالبان باید په ملکي کسانو بریدونه بند کړي او له بین المللي بشردوستانه قانون، قواعدو او اصولو سره سم عمل وکړي، د هغو قواعدو په شمول چې په ۲۰۰۹ کې د طالبانو د چلند په باب یې ژمنه شوې وه او د نورو هغو سندونو په ګډون چې د ځانمرګو بریدونو او نورو وران کاره عملونو په پلانولو کې په ملکي خلکو له بریدونو څخه ډډه وشي.
- نړیوال بشردوستانه قانون، قواعد او اصول مراعات کړي، چې په ملکي کسانو او ملکي هدفونو بریدونه منع کوي او په ملکي کسانو حملې بندوي. ټول ممکن احتیاطي تدابیر ونیسي، چې په تصادفي ډول د ملکي کسانو له وژنې، ژوبلیدنې، او د دوي ملکیت ته له زیان رسولو څخه مخنیوي کوي او په هره پیښه کې د هغې اندازه حد اقل ته راټیټوي.
- د تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو او ځانمرګي بریدونو څخه ډډه وکړي.
- په سملاسي ډول د وژنې او بیرونې له ټولو عملونو څخه لاس واخلي، چې د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو، نړیوال بشردوستانه قانون، د بشرى حقونو نړیوال قانون منع کړى دي لکه وژنې، اعدامول، تښتونې، بېروني او د ملکي خلکو د سرونو غوڅول.
- د ملکي کسانو د ګرځیدو راګرځیدو د بشپړې ازادۍ درناوي وکړي.
- له ملکي کسانو څخه د سپر په څير ګټه اخیستل، چې جنګیالی له بریدونو څخه ژغوري، بند کړى.

**نړیوالو نظامي ځواکونو ته**

- د ټولو پیښو په اړه، چې د ملکي کسانو وژنې په کې شاملې وي، په سملاسي ډول، څرګند، بې طرفه او د باور وړ څیړنې ترسره شي، د څیړنو په پرمختګ او پایلو باندې عامو خلکو ته راپورونه ورکړي او د هغو کسانو په وړاندې مناسب انظباطي یا جنایي اقدام وشي چې نظامي یا داخلي جنایي قانون یې تر پښو لاندې کړى وي.
- د هغو محدودیتونو په بشپړ ډول تقویه کول چې د روان کال د اګست د میاشتې د تاکتیکونو په لارښود کې د هوایي بریدونو او ملکي اوسیدونکو سیمو باندې د ډزو په اړه ورکړل شوي و.
- د ۲۰۱۰ کال د جنورى د تاکتیکونو د لارښود سره سم د شپې د بریدونو لپاره د یوه بل بدیل پیدا کول. تضمین کول چې د نیولو او تلاشۍ په عملیاتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونه د رهبرۍ نقش ولري، ملي، مذهبي، کلتوري رواجونو او دودونو ته احترام وشي او د قواوو د بین المللي قانوني مسوولیتونو یانې د تناسب، تشخیص او د احتیاطي تدابیرو اصولو سره سمون ولري، او د تاکتیکي لارښوونو د اغیزناک تطبیق د ارزولو او څارنې لپاره شفافه معیارونه غوره کړي.
- د ایساف په ځواکونو کې داسې یوه کمیټه تشکیله شي چې د ملکي تلفاتو په باب څارنه او تحقیق کوي او په عام ډول د هغو راپورونه خپروي او د افغانستان له حکومت او نورو سره په مستقیم ډول کار وکړي څو د ملکي کسانو ساتنه، شفافیت او احتساب تقویه شي.
- ملکي کسانو او د نظامي عملیاتو، چې د ملکي کسانو په وژنې، ژوبلیدنې یا د دوي ملکیت ته په تاوان تماميږي، مصدومینو ته په خپل وخت سره، په کافي اندازه او شفاف ډول د خسارې جبران وشي، ناټو د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتې د جبران په باب لارښود دې په اغیزناک ډول تطبیق شي.
- په نظامي عملیاتو کې د خاصو قواوو د شاملولو په باب شفافیت او حساب ورکونه بهتره شي او چیرې چې د دوي د عملونو په نتیجه کې ملکي خلکو ته تاوان ورسیږي، مسوولیت یې ومنی.
- د نظامي اډو په هغو ځایونو کې له ځای په ځای کولو څخه ډډه وشي چې کیدای شي ملکي کسان د بې تناسبه او بې تشخیصه بریدونو له خطر سره مخ کړي.

**د افغانستان د حکومت لپاره**

- د حکومتي کمیټې د تشکیل لپاره په کافي ډول منابع برابر کړي، چې وکولای شي د ملکی تلفاتو د مهمو پېښو په اړه د حکومت له خوا ځواب ووايي او د بین المللي نظامي قواوو، افغانانو، ملګرو ملتونو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، غیر حکومتي موسسو او د مدني ټولنې له نورو ګروپونو سره همکاري وکړي. د دې تضمین وشي چې د ملکی تلفاتو په تحقیق کې د حکومت له خوا د عدلي طب تحقیقات شامل وي او د خسارې د جبران طرز العملونه په شفاف ډول او په خپل وخت سره عملي شي.
- د دې تضمین وشي چې افغان ملي امنیتی ځواکونه په بشپړ ډول خپل مسوولیتونه اجراء کړي، چې د بشرپالنې د بین المللي قانون له مخې يې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه لري او ټول ممکن احتیاطي تدابیر ونیسی څو د ملکی کسانو د تصادفي ډارونې، ژبلونې او ملکي ملکیتونو ته له زیان رسولو څخه مخنیوی وشي او په داسې پیښو کې د هغو شمیر حد اقل ته راټیټ شي.
- مناسب او سملاسي اقدامات، لکه انضباطي تدابیر او که مناسب وي عدلي تعقیب، دی ونیول شي، څو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د هر غړی له خوا د حساب ورکونې عمل تقویه شي، چې په ناقانونه ډول د ملکی کسانو د وژنې یا ژوبلېدو سبب کیږي او یا په بل ډول د افغانانو حقوق تر پښو لاندې کوي.
- په هغو ځایونو کې د نظامي اډو له ځای پر ځای کولو څخه ډه ډه وکړي چې ملکی کسان د بې تناسبه او بې تشخیصه بریدونو له خطر سره مخامخ کوي.

**د ۲۰۱۰ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په جګړه کې د ښکيلو خواوو له طرفه د ملکی تلفاتو ثبت شوی شمير (مرګ او ژوبلې)**




**د ۲۰۱۰ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په جګړه کې د ښکيلو خواوو له طرفه د ملکي کسانو د وژنی ثبت شوی شمير**



## د حکومت ضد عناصر او د ملکي خلکو ساتنه

قانوني تحليل: په غير نړيواله وسله واله جګړه کې، غير دولتي منظم وسله وال ګروپونه لکه طالبان او نور د حکومت ضد عناصر چې په افغانستان کې فعال دي، د بشرپالني د بين المللي عرفي قانون، د ۱۹۴۹ کال د ژنيو د توافقاتو د دريمي مادي او د ژنيو توافقاتو د اضافي پروتوکولونو په وړاندې مسووليت لري. دغه ګروپونه عين هغه مسووليت لري لکه دولتونه يې چې لري، ځو هغه خطرونه کم کړي چې جګړې يې په ملکي کسانو تحميلوي، هغه ملکی خلک وساتي چې په دښمنيو کې ښکيل نه وي، او ملکي کسان تر هدف لاندې ونه نيسي او ملکی خلک او ملکي هدفونه تر بريد لاندې را نه ولي.

### عمومي نظر

د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ له لومړۍ ورځې د جون تر ديرشمې پورې ۹۲۰ تنه ملکي تلفات د حکومت ضد عناصرو ته منسوب شوي دي چې په دې موده کې د ټولو ملکي تلفاتو ۷۲ سلنه جوړوي. د يوناما د بشری حقونو څانګې مشاهده کړله چې حکومت ضد عناصرو ډير ځله مشروع نظامي هدفونه تر بريد لاندې نيولي چې په نتيجه کې يې په غير متناسب ډول ملکي تلفات منځ ته راغلي. دغه راز حکومت ضد عناصرو په قصدي ډول داسې کارونه هم کړي دي چې هدف يې د ملکي خلکو ترولکي لاندې راوستل و او ډير ځله يې په عمدي ډول ملکی کسان تر بريد لاندې راوستي. حکومت ضد عناصرو په عمده ډول نظامي هدفونه په نښه کړي دي او په دې لړ کې يې تعبيه شوي چاوديدونکي وسيلي، ځانمرګي بريدونه، راکټي حملې او مخامخ فيرونه کارولی دي. خو حکومت ضد عناصرو دغه تاکتيکونه په هغو ساحو کې په کار اچولي چې ملکی خلک په کې اوسي او د نظامی هدفونو تشخيص کول ګران دي. ځيني تاکتيکونه او وسلې خاصتا ځانمرګي بريدونه او تعبيه شوی چاوديدونکي وسيلې په ځيني مواردو کې معلوميږي چې د مشخصو ملکي کسانو د په نښه کولو لپاره په کارول شوې دي. حکومت ضد عناصرو ملکي کسان د مختلفو اقداماتو په ذريعه تر ولکي لاندې راوستي لکه خشونت، وژني او ښنتوني.

**د ۲۰۱۰ په لومړيو شپږو مياشتو کې د حکومت ضد عناصرو ته منسوب ثبت شوی ملکي تلفات چې د نوعيت په لحاظ ګروپ بندي شوي دي**



د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نیمایي کې حکومت ضد عناصرو تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې او ځانمرګي بریدونه په لویه پیمانه وکارول، چې په جګړه کې تر ټولو زیات مرګوني تاکتیکونه دي. دغه راز راکټي او د هاوان د توپونو حملي[10] له مورچلونو څخه بریدونه او مخامخ بریدونه هم کارول شوي دي.

په دې برسیره، حکومت ضد عناصرو د هغو قبیلوي مشرانو، د ټولنې د مشرانو او نورو کسانو په ضد په سیستماتیک او پرله پسې ډول کمپاین پیل کړی دی چې له حکومت سره او یا له بین المللي نظامي قواوو سره کار کوي او یا پر هغوي د دې ګمان کیږي. په دې لړ کې وژنې او اختطافونه هم شوي دي. دغه کمپاین د طالبانو له خوا د می په ۸ خپره شوې وینا کې هم تایید شوی دی، چې د می په ۱۰ یې د الفتح (بری) د عملیاتو له پیل کولو سره کړې وه او هدف یې "امریکاییان، د ناټو نظامي پرسونل، بهرني سلاکاران، جاسوسان چې د بهرنیو ډیپلوماټانو په نامه کار کوي، د کرزی د اداري کارمندان، د داخلي او بهرنیو امنیتي شخصي کمپنیو قراردادیان، د نظامي لوژستیکي او نظامي ساختماني شرکتونو قراردادیان او کارمندان او د بهرنیو تیری کوونکو ټول مرستندویان، چې د بهرنی تسلط د تقویې لپاره کار کوي" و.

په ځینو ساحو کې طالبانو وکولای شو چې په ملکی تاسیساتو باندې د بریدونو په ذریعه لکه د ولسوالیو مرکزونه، ښوونځي، چې زیاتره یې تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې، مخامخ حملې او راکټي بریدونه وو، د حکومت فعالیتونه شنډ کړي. دغو بریدونو هغو ملکي کسانو ته چې په دې تاسیساتو کې یې کارونه کول یا په ګاونډیو ساحو کې اوسیدل د سر او مال تاوانونه اړولي دي، او ملکی خلک یې له دې څخه بېزاره کړي چې په منظم ډول له ولایتي چارواکو سره وګوري او د حکومت مرسته او لاربښوونې تر لاسه کړي. حکومت ضد عناصرو دغه راز ملکی کسان چې د حکومت لپاره یې کار کاوه وژلي دي، ژوبل کړي یا یې بیرولي دي، لکه ښوونکي، ډاکټران، نرسان او امنیتي ساتونکي. د دې په پایله کې بنیادي خدمتونه، د حکومت لاس رسي او له خلکو څخه ساتنه ډیر ټکني شوې او نور هم کمزوري شوي دي.

## تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې او ځانمرګي بریدونه

### تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې

تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې تر بل هر تاکتیک څخه زیات ملکي کسان په جګړه کې وژني او ژوبلوي. که څه هم حکومت د روان کال په جنوري کې د امونیم نایتریت سره منع کړې ده، د تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو د جوړولو مهم جوړوونکي اجزاوې او د دوي په کارول زیات شوي دي او له دې سره د ملکي کسانو په تلفاتو کې هم زیاتوالی راغلی دی. د دغو وسیلو په ذریعه روان کال په شپږو میاشتو کې ۳۷۴ مرګونی پیښې شوې دي، چې د ټولو تلفاتو ۲۹ سلنه جوړوي. او په جنوبي برخو کې د ملکی تلفاتو له جملې څخه چې د دې وسیلو په ذریعه رامنځ ته شوي دي ۶۵ سلنه جوړوي. په ټول هیواد کې د دغو وسیلو په ذریعه په مرګونی پیښنو کې د ۲۰۰۹ کال له د همدې مودې سره پرتله، ۴۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

حکومت ضد عناصرو تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې په لومړۍ سر کې د نظامي هدفونو په ضد کارولې دي، خو د هغو زیات او پراخ استعمال د ملکی تلفاتو سبب هم ګرځیدلی دی. تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې د سړکونو په غاړو، په بازارونو او سوداګریزو مرکزونو، د حکومتي چارواکو د کورونو او دفترونو څخه بهر، په بایسکلونو او رکشو کې ایښوول کیږي. تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې په مختلفو ډولونو چاودل کیږي. دغه وسیلې د لرې فاصلې څخه چاودیږي، د وایر په ذریعه یا پر هغو د قربانیانو له خوا د ختلو سره (د فشار یا په حساسو موادو پوښل شوي چاودیدونکي وسیلې ). کله چې وچاودیږي، د دې وسیلو چاودنه هر چاته چې په نږدې سیمه کې وي زیان رسولی شي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو په اړه راپورونه ترلاسه کړي، چې زیاتره یې له لیرې څخه اداره کیدل او له ګڼې ګوڼې څخه په ډکو بازارونو کې چاودل شوي دي. د مارچ په ۳۱ یوه چاودیدونکي وسیله د راپورونو له مخې چې په یوه کراچۍ کې ایښودل شوې وه د هلمند ولایت د لشکرګاه ولسوالی د باباجی په بازار کې د چهارشنبې په ورځ وچاودیدله. یوه رسمي پلاوی چې تحقیقات یې کړې دی ویلي دي، چې ۲۴ تنه ملکي کسان په دې چاودنه کې وژل شوي او ۴۶ تنه نور ژوبل شوي دي.

---

[10] هغه بریدونه د هاوان توپونو او راکټي حملې په حیث تعریف شوي دي، چې په ځینو مواردو کې د راکټونو په ذریعه بمونه غورځول کیږي چې یو هدف یې تر نظر لاندې وي او معمولا له یوه واټن څخه ویشتل کیږي.

په ځینو مواردو کې چاودیدونکې وسیلې په عمدي ډول د هغو دکانونو مخې ته ایښودل شوي وو، چې د موسیقۍ ډي وي ډی او خواړه یې پلورل. د خوست په ښار کې، د راپورونو له مخې دوه جلا چاودنې د مې په ۱۲ او ۱۹ د شیریخ د دوکانونو مخې ته وشوې چې د ماشومانو په ګډون ۱۲ تنه ملکي کسان یې ژوبل کړل.

له لیرې څخه تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې چې د یوناما د بشري حقونو څانګې مستندې کړې دي، نړیوال نظامي کاروانونه، افغان ملي امنیتي ځواکونه او ودانۍ، لکه افغان ملي پولیس، او د ملي امنیت د اداری مرکزي ودانۍ، په نښه کړې دي، خو دغه چاودنې په ګڼو بازارونو کې هم شوي دي چې ملکي کسان په کې وو، چې په نتیجه کې ملکي کسانو ته د اصلي هدف په مقایسه، ډیر زیان رسیدلی دی. په اپریل کې دوه ډیرې لویې دغه ډول پیښې د جلال آباد په ښار کې، چې یوه یې د نړیوال نظامي کاروان په وړاندې (په بایسکل کې ایښودل شوې) او بله یې د این ډی ایس د تحقیقاتو د دفتر مخې ته (په رکشه کې ایښودل شوی) په ۷ او ۱۷ د اپریل وشوې او په پایله کې یې ۳ تنه ملکي کسان ووژل شول او د ماشومانو په ګډون ۲۱ تنه نور په کې ژوبل شول.

له لیرې څه اداره شوي تعبیه شوې چاودیدونکي وسیلې دغه راز د نامتو ملکي کسانو د وژنې لپاره هم کارول شوې دي. د جون په میاشت کې دوه پیښې دغه خبره څرګندوي. د جون په ۲۲ د کندز ولایت د عامې روغتیا رئیس هغه وخت ووژل شو چې د ده په شخصي کلنیک کې دغه ډول وسیله وچاودیده او درې تنه نور ملکي کسان یې هم ژوبل کړل. لومړنیو څیړنو ښودلې ده چې حکومت ضد عناصر د دې برید شا ته ولاړ و، ځکه چې د عامې روغتیا رئیس څو ځله دغه غوښتنه نه وه منلې چې شورشیانو ته درمل او طبي پرسونل ولیږي څو د دوي د زخمونو درملنه وکړي چې له حکومتي قواوو سره په جګړو کې پیښ شوی وو. د جون په ۲۳ دغې وسیلې د ننګرهار ولایت د بهسودو د ولسوالی د ولایتي شورا غړی وواژه او دوه تنه نور ملکیان یې زخمیان کړل. دغه مشهور دیني عالم د سپتمبر د ولسي جرګې ټاکنو لپاره هم کاندید و.

د حکومت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو په کارول، چې د فشار په ذریعه ترسره کیږي یوه لویه اندیښنه ده، ځکه دغه وسیلې ډیر ځله د لویو لارو په څنډو کې ایښودل کیږي چې ملکي ترافیکي عرادې پرې تګ راتګ کوي او یا په ګڼو تجارتي بازارونو کې ایښودل کیږي. د دغو وسیلو چاودیدنه په بې تشخیصه ډول د ملکي کسانو ژوند اخلي یا یې ژوبلوي. د دغو وسیلو څرنګوالی دا دی چې د هر چا په ذریعه چاودیدای شي. زیاتره د ملکي کسانو په ذریعه او کولای شي چې په بې تشخیصه ډول هر هدف په نښه کړي.

تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې اکثرا د دې لپاره کارول شوې چې د محلي خلکو په منځ کې ویره او اندیښنه خپره کړي، د دوي ګرځیدل راګرځیدل محدود کړي او په معیشت یې منفي اغیزه وکړي. که څه هم په ځینو پیښو کې طالبانو محلي ټولنې له دې خبرې کړې دي چې په مشخصو لارو کې دغه ډول وسیلې ښخې کړای شوي دی او یا یې دوي خبر کړی دي چې په دې لارو تګ راتګ و نه کړي خو دغه تدابیر اکثرا ناکافي وو. د هرات ولایت د شین ډنډ ولسوالۍ او د فراه ولایت د پشت رود په ولسوالۍ کې پنځه کسه ملکي کسان ووژل شول او ۱۷ نور د دغې وسیلې په ذریعه ژوبل شول، که څه هم محلي طالبانو د دې خبرداری ورکړی و.

> د اپریل په ۲۸ د درګۍ په سیمه کې د خوست ولایت د تڼیو په ولسوالۍ کې شپږ تنه ملکي خلک هغه وخت ووژل شول چې موټر یې په چاودیدونکي وسیلې وخوت. د مې په ۳ د پکتیا ولایت دزرمت د ولسوالۍ د تره کې په کلي کې تعبیه شوې چاودیدونکي وسیله د یوه بس په وړاندې و چاودیده، چې نهه کسان یې ووژل، چې دوه یې ماشومان وو او ۱۲ نور یې ژوبل کړی، چې ۴ تنه یې ماشومان وو.

**ځانمرګي بریدونه**

د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نیمایي کې ۱۸۳ ملکي کسان د ځانمرګو بریدونو په پایله کې وژل شوي دي، چې د دغو له نیمایي څخه زیات مرګونه په جنوبي برخو کې شوي دی (۱۳۳ملکي کسان وژل شوي). دغه شمیر د ټولو هغو وژنو ۲۰ سلنه ښیي چې حکومت ضد عناصرو ته یې نسبت کیږي، او په دې موده کې د ټولو ملکي تلفاتو یانې ۱۲۷۱ تنو ۱۴ سلنه څرګندوي. دغه شمیر د ۲۰۰۹ کال د همدې مودې په پرتله ۲۰ ٪ زیاتوالی او د ۲۰۰۹ د وروستی نیمایي په پرتله ۴۳ سلنه زیاتوالی څرګندوي.

ځانمرګي بریدونو حکومتي او نړیوال نظامي کاروانونه، د افغان امنیتي او نړیوالو امنیتي ځواکونو ودانۍ او پرسونل په نښه کړي دي. بریدونه د تلاشۍ په پوستو، لویو لارو او دغه راز په سوداګریزو او د استوګنې په

ساحو کې شوې دي چې ډېر ملکی کسان په کې ژوند کوي، د مۍ په ۱۸ له نقليه وسيلې[11] څخه د يوې چاودېدونکې وسيلې په ذريعه د کابل په ښار کې دارالامان ته نږدې په نړيوالو امنيتي ځواکونو بريد وشو. د دې بريد په پايله کې اووه تنه ملکي کسان مړه او ۴۹ تنه نور ژوبل شول. په دې ډله کې ښځې او ماشومان هم شامل وو. دغه راز د نړيوالو نظامي پرسونل څخه هم شپږ تنه مړه شول.

ځانمرګي بريدونه د هوټلونو په منځ کې، په پلونو او بازارونو کې کيږي، په دې ټولو ساحو کې ګڼ شمير ملکي خلک موجود وي. دوه ځانمرګي بريدونه په جنوب کې: يو د ارزګان ولايت د دهراود په ولسوالۍ کې او بل د کندهار په ښا رکې د جنورۍ په ۱۴ او د فبرورۍ په ۴ له خلکو څخه د ګڼه ګونې په ډکو ځايونو کې د هوټلونو مخې ته وشول. د دواړو بريدونو په پای کې ۲۳ تنه ملکي کسان ووژل او ۳۴ تنه يې ژوبل کړل. د جنورۍ د ۱۴ بريد کی کيدای شي چې وسيله له خپل وخت څخه مخکې چاودېدلې وي.

دغه ډول بريدونه، چې د طالبانو له خوا ترسره کيږي په څرګند ډول د هغو قواعدو تر پښو لاندې کول دي، چې د طالبانو له خوا په ۲۰۰۹ کې "د چلند قواعد" تر نامه لاندې خپاره شوې دي. ۱۴ ماده وايي: "د ځانمرګي بريدونو په اجراء کې موږ بايد هڅه وکړو، چې د ملکی تلفاتو څخه مخنيوی وشي." ۱۶ ماده يو عمومي دستور صادروي چې "مجاهدين بايد ډېر زيات د دې هڅه وکړي چې ملکي کسان تلف نه شي."[12]

د يوناما د بشري حقونو څانګې څو ځانمرګي بريدونه مستند کړي دي چې حکومتي چارواکي او قومي مشران يې په نښه کړي دي. د فبرورۍ په ۲۲ يوه ځوان هلک خپل ځانمرګي واسکټ په هغه وخت کې و چاوه، چې يو حکومتي قومي مشر د ولسوالۍ له چارواکو او قومي مشرانو سره له يوې کتنې وروسته د ننګرهار په ولايت کې خپل کور ته راستنيده. د دې بريد په پايله کې ۱۴ ملکي کسان ووژل شول، په دې کې د چمتلې د معيوبينو د شورا مشر او د شيرزادو د داخلي بې ځايه شويو وګړو د شورا مشر هم شامل وو. ۱۲ تنه نور د راستنيدونکو او کډوالو د ولايتي دفتر د مشر په ګډون ټپيان شول.

لومړۍ ځانمرګې پيښه چې د يوې ښځې له خوا په افغانستان کې وشوه هغه د کنړ په ولايت کې د جون په ۲۱ وشوه. يوې ښځې، چې په ځان پورې يې چاودېدونکې توکې[13] تړلی و د ملي پوليسو او نړيوالو نظامي ځواکونو د يوې ګډې پوستې په وړاندې دشلتن په پله باندې، د شيګل او شلتن په ولسوالۍ کې ځان وچاوه. لږ تر لږه يو تن ملکي کس ووژل شو او د راپورونو له مخې ۱۳ تنه ملکيان ژوبل شول، په دې کې نهه تنه ماشومان وو. ولايتي چارواکو دغه بريد وغانده او قربانيانو ته يې د خسارې جبران ورکړ. طالبانو د دې بريد مسووليت ومانه.

که څه هم حکومتي او نړيوال نظامي ځواکونه ډېر ځله د بريدونو هدف وو، دوو ځانمرګي بريدونو د شخصي سازمانونو په وړاندې د کندهار په ښار کې د دې بريدونو يوه لړۍ څرګنده کړه چې د ښار څخه بهر او په ښار کې دننه د ملکي اسانتياوو او ملکي خلکو په ضد وشوې. په خاص ډول هغه کسان او ځآيونه په عمدي ډول په نښه شول چې له افغان حکومت، نړيوالو سازمانونو او نړيوالو نظامي ځواکونو سره يې تړاو درلود. د اپريل په ۱۵ يوه چاودېدونکې وسيله په يوه انګړ کې وچاودله چې څو نړيوال سازمانونه په کې راټول شوې و. په پايله کې شپږ کسان ووژل شول او ۲۷ تنه ژوبل شول. له دې پيښې لږ وروسته، د اپريل په ۲۷ په يوې شخصي امنيتی کمپنۍ باندې د بريد له امله څلور تنه ملکي خلک ووژل شول او ۳۰ تنه يې ټپيان شول.

---

[11] په نقليه وسيلې کې د تعبيه شوي چاودېدونکی ځانمرګي وسيله يو شخص دی چې د چاودېدونکو توکو او نورو ګوليو څخه ډک نقليه وسيله چلوي.
[12] د طالبانو له خوا د چلند کوډ، ۹ مۍ، ۲۰۰۹ کال. دغه ليکنه د شها د ت په ويب پاڼه کې د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۴ خپره شوې.
[13] په بدن پورې تړلې تعبيه شوې چاودېدونکې ځانمرګي وسيله يو شخص دی چې له چاودېدونکو توکو څخه ډک واسکټ يې اغوستي وي.

د جون په ۹ د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالی د ناګهان کلی د ماشاکور په سیمه کې یو تعبیه شوي چاودیدونکی برید د واده په مراسمو چې نارینه په کې ناست و، وشو. د راپورونو له مخې برید کوونکی یو ځوان ۱۸ کلن هلک و. لږ تر لږه ۴۹ کسان ووژل شول، چې شپږ تنه یې ماشومان و او ۱۰۶ تنه ژوبل شول چې ۱۴ تنه په کې ماشومان وو. دې حادثې په جنوب کې تر ټولو زیات ملکی کسان د دې کال په دوران کې ووژل. د عیني شاهدانو په وینا د برید هدف د محلي دفاعي ابتکار (ایل ډي آی) مشر و چې د امریکا له خوا یې ملاتړ کیږي او په جنوب کې تر ټولو بریالی پروګرام دی. نږدې دري په څلور برخې ملکي کسان په کې تلف شول، چې په هیڅ امنیتي قوه یا وسله وال ګروپ پورې نه و تړلي. طالبانو د دې برید مسوولیت نه دی منلي، بلکه تور یې لګولي دی چې حادثه د هوایي برید په پایله کې رامنځ ته شوې ده. دغسي تورونه د طالبانو له خوا نوی نه دي، بلکه غواړي د داسي بریدونو څخه پام بلې خوا ته واړوي، چې مسوولیت یې دوی ته منسوبیږي او ډیر ملکی تلفات لري.

**پیچلي او ډله ییز ځانمرګي بریدونه**

له ۲۰۰۱ راهیسي طالبانو تر بل هر وخت زیات پیچلي او ډله ییز ځانمرګي بریدونه ډیر ځله کړي دي. د ۲۰۱۰ کال په دوو لومړیو میاشتو کې طالبانو په هره میاشت کې دوه پیچلي ځانمرګي بریدونه وکړل. له هغه وخته د دغسي بریدونو شمیر کم شوی دی. په پیچلو بریدونو کې په ځان پورې تړلی او په نقلیه وسیلو کې ایښودل شوي بمونه او د سپکو وسلو او لاسي بمونو کارول شامل وو. که څه هم د دغو بریدونو هدف زیاتره حکومتي ودانۍ (ټولي دغسي ودانی مشروع نظامي هدفونه نه دي) او نړیوالي نظامي اډې وي، چې کم ملکی تلفات یې درلودل، خو دغو بریدونو په ملکی خلکو کې ډیره ویره او اندیښنه پیدا کړې ده. پیچلي بریدونه د افغانستان په جنوب، شمال او مرکزي برخو کې ترسره شوي دي.

د فبروری په ۲۶ په یوه پیچلي برید کې د ځانمرګي بریدونو یوه لړی شامله وه، چې د کابل په ښار کې یې د بهرنیانو د استوګنې ځایونه او میلمستونونه په نښه کړی و او په پایله کې یې ۱۷ تنه ووژل شول، چې ۱۳ کسه یې ملکی خلک وو او ډیری یې بهرنیان وو. د راپورونو له مخې ۴۴ ملکي کسان ژوبل شول، چې اکثریت یې افغانان وو. د مارچ په ۱۳ د کندهار په ښار کې ۵ بریدونه وشول: یو ځانمرګي برید چې په نقلیه وسیله کې د تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلي په ذریعه وشو، د کندهار د سرپوزی په محبس او د پولیسو په مرکزي دفتر وشو، دوه ځانمرګي بریدونه چې په بدن پورې د تړلو تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو په ذریعه جوړ شوی و، د سره جومات، الجدید او سیمن دو راهي په سیمو کې وشول. د راپورونو له مخې یې ۳۵ تنه ووژل او ۷۰ تنه یې ژوبل کړل. د دغو کسانو څخه لږ شمیر یې افغاني امنیتي قواوې وي. طالبانو د دواړو بریدونو مسوولیت ومانه او په یوه اعلامیه کې یې چې له برید څخه وروسته خپره شوه په افغانستان کې نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ته اخطار ورکړ چې په ښار کې دې عملیات نه پلانوي.

**حقوقي تحلیل:** د تعبیه شویو چاودیدونکو وسیلو کارول په ډیرو قضیو کې د بشرپالنې د نړیوال قانون د تشخیص، تناسب او احتیاط له اصولو څخه تیری ګڼل کیږي. ځانمرګی برید چې په مستقیم ډول ملکي کسان تر هدف لاندې نیسي یا هغه برید چې په دقیق ډول د نظامي ضرورتونو څخه اوړي او کیدای شي چې په ملکی تلفاتو ختم شي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ده. ځانمرګي په خپل ذات کې په وسله واله جګړه کې د برید د یو میتود په څیر منع نه دي. مګر ځانمرګي برید د بشرپالنې نړیوال قانون ماتوي که ملکي کسان په نښه کړي او یا دا چې که توقع کیږي چې ملکي تلفات به رامنځ ته کړي او د تناسب اصل به تر پښو لاندې کړي او یا په خاینانه ډول تر سره شي. په دې برسیره، په مشروع نظامي هدفونو باندې ډیر ځانمرګي بریدونه د تناسب اصل ته نه ګوري او په داسي ساحو کې حملې کوي چې زیات شمیرملکي کسان هلته موجودوي او دا څرګندوي چې ټول ممکن احتیاطي تدابیر نه نیول کیږي څو د ملکي کسانو د تصادفي وژنې او ژوبلیدو د خطر اندازه حد اقل ته راټیټه کړي.

**د ډاروني تاکتيکونه: تېښتوني، وژنې، اعداموني، د تلاشی ناقانونه پوستې او شب نامې**

د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې حکومت ضد عناصرو د حکومت د ملاتړو او هغو کسانو په وړاندې د ډاروني کمپاين تيز کړی دی چې ګمان پرې کيږي د حکومت او نړيوالې ټولنې ملاتړ کوي. په دې کمپاين کې د حکومتي چارواکو او ملکيانو اختطافونه،[14] وژنې، اعداموني شاملې دي. د يوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې د اعدامونو او وژنو ۱۸۳ پېښې او د اختطاف ۱۶۵ پېښې ثبتې کړې دي.[15] اعداموني او وژنې د ۲۰۰۹ کال د لومړۍ نيمايي په پرتله ۹۵ سلنه زياتې شوي (د ټولو وژل شويو ملکي کسانو ۱۴ سلنه ده چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي). دغه راز ملکی کسان د سرکونو د بندولو، د "شب نامو" په ټيټولو او د بيروني د نورو تاکتيکونو په کارولو سره له بيرې او ډار سره مخامخ شوي دي.

حکومت ضد عناصرو د ټولني مشران، حکومتي چارواکي، ملکيان چې له نړيوالو نظامي ځواکونو سره د ژباړونکو په څير کارکوي، ساختماني کارکوونکي، او هغه ملکي کسان په نښه کوي چې ګمان پرې کيږی له حکومت سره تړلی دي او يا د هغه ملاتړ کوي. دوي دغه راز، ښوونکي، د روغتيا کارمندان، دکانداران او د افغاني او نړيوالو غير حکومتي موسسو کارمندان هم په نښه کړي دي. د بيروني او وژلو دغه عملونه د ملکی ټولنو په منځ کې د ډار او ترس د ټيټولو او په ملکي خلکو باندې د ولکې د ټينګولو ډېرې اغيزناکې وسيلې دي، دغه تاکتيکونه له افغان حکومت سره ملاتړ ته زيان رسوي او دا څکه پيښيږي چې افغان حکومت ډېر ځله نه شو کولای چې ملکی خلک د حکومت ضد عناصرو له دې ډول عملونو څخه وژغوري.

**اختطافونه**

حکومت ضد عناصرو مرستندويه کارکوونکي، طبي او روزنيز کارمندان، کارګران، د لاريو ډريوران او قومي مشران اختطاف کړي دي. ګرانه ده چې د دغو کسانو شمير په دقيق ډول څرګند کړو او د حوادثو شمير اکثرا کم ښودل کيږي. اختطاف يوه حساسه مساله ده او هغه کسان چې په مذاکراتو کې ښکيل وي په ډيرو مواردو کې د خبرو لپاره زړه نا زړه وي يا له خلاصيدو يا وژلو وروسته څه نه وايي.

د يوناما د بشري حقونو څانګې په ټول هيواد کې د اختطاف ډيرې پيښې ثبتې کړي دي، خصوصا جنوب او جنوب ختيځ کی د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې ډير شمير دغه ډول پيښې ليدلي دي. په جنوب ختيځ کې د يوناما د بشري حقونو څانګې په می کې ۴۵ د اختطاف قضيې ثبتې کړې دي، چې د حکومت ضد عناصرو له خوا وشوې. له دې ډلې څخه ۱۴ کسان يې ووژل شول، لس تنه يې ازاد شول او پاتې ۲۱ تښتول شوو کسانو برخه ليک لا تر اوسه نه دی معلوم، په دې ډله کې يو ۱۲ کلن هلک هم شامل دی. د تښتول شويو اکثريت په دې ګمان نيول شوي و چې له افغان حکومت او نړيوالو نظامي ځواکونو سره همکاري کوي.

اختطاف شوي ملکی کسان ډير ځله وژل شوي، د پيسو د اخيستلو لپاره ساتل شوي او يا له خوشي کيدو مخکې د معاملې يا راکړې ورکړې لپاره ساتل شوي. د مثال په ډول، حکومت ضد عناصرو د حکومت پلوه يوه مشر د کورنی د دوو غړو د خوشي کولو په بدل کې د فارياب ولايت د بل چراغ په ولسوالی کې د فبرورۍ په ۱۴ غوښتي وو چې د حکومت له ملاتړ څخه دې لاس واخلي او دوي ته دې وسلې هم برابرې کړي. په لغمان او کنړ ولايتونو کې د می په مياشت کې اختطاف شوي کسان له هغه وروسته خوشي شول، چې د هغوی له خوا يې له حکومت سره د نه ملاتړ ډاډ تر لاسه کړ او يا يې هغه جريمه تحويل کړله چې د طالبانو د محکمې له خوا په دوي تحميل شوې وه. حکومت ضد عناصرو دغه راز ملکی کسان د تلاشی په هغو پوستو کې هم اختطاف کړي دي چې دوي جوړې کړي دي.

[14] د يوناما د بشري حقونو څانګه د اختطافونو شمير د ملکی تلفاتو په ټول شمير کې نه راولي. که يو ملکی کس وژل شوی وی، د هغه مرګ به د اعدامونو/وژنو په لست کې راغلي وي.
[15]

د مې په ۲۳ د ځدراڼو د قبيلې ۱۱ تنه حکومت پلوه مشرانو باندې، چې د ټولنې د پرمختيايي شورا غړي هم وو، په هغه وخت کې فيرونه وشول، چې دوی د خوست ولايت د شمل په ولسوالۍ کې د سيدخيلو په کلي کې له يوې غونډې څخه راستنېدل. ۵ تنه مشران سملاسي ووژل شول او نور شپږ تنه يې اختطاف شول. يو تن بيا وروسته ووژل شو. د ولايتي چارواکو په وينا د مې تر ۲۹ پورې د نورو مشرانو په اړه هيڅ خبر نه دی تر لاسه شوی. احتمال شته چې د "اربکيو" د تشکيل په وړاندې غبرګون، چې يوه قومي قوه ده او محلي ټولنې ساتي او د هغو کارګرانو ساتنه کوي چې د خوست- ګرديز لويه لار جوړوي د دغه بريد يوه انګيزه وي او يا له دې امله شوي وي چې مشرانو د حکومت ضد عناصرو ته د پروژې د يوې برخې د پيسو ورکولو څخه انکار کړی و.

**وژنې او اعدامونې**

حکومت ضد عناصرو په جنوب ختيځ او مرکزي برخو کې يو زيات شمير ملکی کسان وژلي او اعدام کړي دي. دغه لړۍ خصوصا په جنوب کې ډيره تنده وه. د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې حکومت ضد عناصرو د دغو تاکتيکونو په ذريعه ۱۸۳ تنه ملکی کسان وژلي دي. د يوناما د بشري حقونو څانګې دغه راز څو داسې حادثې ثبتې کړې دي چې په عام محضر کې کسان اعدام شوي دي، چې په دې کې ماشومان هم اعدام شوي دي.

د ۲۰۱۰ کال په لومړيو څلورو مياشتو کې د وژنو شمير په هره اونۍ کې په منځنی ډول ۷,۰ ته ورسيد. دغه شمير د ۲۰۰۹ کال په همدې موده کې ۳,۶ ته رسيدلی و. د ملګرو ملتونو د امنيت او حفاظت- افغانستان څانګې په وينا حکومت ضد عناصرو يوازې په مې او جون کې په هره اونۍ کې په منځني ډول ۱۸ کسان وژلي دي. په دې کې د برمل د ولسوالۍ د ښاروال مرستيال او د کندهار ښاروال شامل دي. د وژنو ډير شمير په جنوب کې ثبت شوي چيرې چې د جنوري او جون ترمنځ له سلو څخه زيات کسان وژل شوي دي.

که څه هم افغان امنيتي ځواکونه په جنوب کې د وژنو اساسي هدف و، معلوميږي چې زيات خلک د جاسوسۍ په ګمان اختطاف او اعدام شوي دي. دومره شمير خلک پخوا نه دي ثبت شوي. په دې ډله کې د شورا غړي، زده کوونکي، ملايان، ښوونکي او قومي مشران شامل دي.[16] طالبانو ډير ځله د وژل شوو کسانو په بدن پورې نوټونه ټومبلي وي چې نور له دغسې برخليک څخه ځانونه وژغورئ.

د طالبانو د چلند کوډ بيلا بيلو نسخو د "جاسوسي" مسالې ته اشاره کړې ده. د ۲۰۰۹ کال د چلند کوډ په تفصيل سره بيانوي چې له شکمنو جاسوسانو سره بايد څه ډول چلند وشي. کوډ د اعدام جزا بيانوي، چې د هغې لپاره دوه تنه شاهدان يا اعتراف شرط ګڼل شوی دی.[17]

د ملکي کسانو په اعدامولو کې د ولسواليو ولسوالان، د شورا غړي، مذهبي مشران، ښوونکي، افغان امنيتي ځواکونو پخواني غړي، قومي مشران، زده کوونکي، د لاريو ډريوران، ډاکټران، ساختماني کارکوونکي او هغه کسان شامل دي، چې د ولايتي چارواکو، نړيوالو نظامي سازمانونو او نړيوالو سازمانونو ته کار کوي.

لږ تر لږه څلور تنه ملکي کسان په مسجد کې د لمانځه د اداء کولو په حال کې وژل شوي دي. کله چې د عبادت ځای ته ننوځي، خلک خپلې وسلې په بهر کې ږدي او له دې امله بې وسلې وي او نه شي کولای چې خپل ځانونه وساتي.

د فبرورۍ په ۱۸ د کندهار ولايت د ډنډ په ولسوالۍ کې يو قومي مشر په مسجد کې د لمانځه په مهال ووژل شو. د اپريل په ۹ د کندهار ولايت د ژيړۍ په ولسوالۍ کې د ولسوالۍ د شورا غړي په مسجد کې ووژل شو. د اپريل په ۱۹ د کندهار د ښار د ښاروال مرستيال په مسجد کې ووژل شو، د مې په ۲۱ د خوست ولايت د تريزی په ولسوالۍ کې يو ملا په مسجد کې د لمانځه د اداء کولو په حال کې ووژل شو.

---

[16] د يوناما د بشري حقونو څانګه انديښنه لري، چې د ويکي ليک د ويب پاڼې سندونه، چې د هغو افغانانو به باب په تفصيل سره معلومات په ډاګه کوي چې له افغان حکومت يا/او نړيوالو نظامي ځواکونو سره يې کار کړی دی، دوی د حکومت ضد عناصرو له خوا له سملاسي غچ اخيستنې له خطر سره مخامخ کوي. د يوناما د بشري حقونو څانګه تضمين کوي چې د دوي ټولې منابع په سري ډول ساتل کيږي.

[17] د طالبانو "د مجاهدينو لپاره لارښود" يا لايحه لومړی د ۲۰۰۶ کال په نوومبر کې راپيدا شوه او بيا په ۲۰۰۹ کې په مئ کې تازه او خپره شوه. د طالبانو "د چلند کوډ" د ۲۰۱۰ په جون کې راپيدا شو. د يوناما د بشري حقونو څانګه اوس د ۲۰۱۰ کال سندونه د تحليل لپاره ژباړي.

**په کندهار کې وژنې**

د کال له پیل څخه حکومت ضد عناصرو په خاص ډول طالبانو په کندهار کې په سیستماتیک ډول د وژنو کمپاین پیل کړی دی. د کندهار په ولایت کې د جون په میاشت کې ۳۷ تنه د دوی له خوا وژل شوي او څلور نور ژوبل شوی دي، چې ډیری یې ملکی کسان وو. کمپاین په هغه وخت کې ډیر زور واخیست چې افغان امنیتي ځواکونو د دې کال په پیل کې د عملیاتو اعلان وکړ. دغه عملیات د "کندهار لپاره همکاري" نومول شوي وو. حکومت ضد عناصرو په سیستماتیک ډول ملکی مشران، لکه قومي او د ټولنې رهبران، ولایتي چارواکي او مرستندویه کارګران په نښه کړی دی، چې له افغان حکومت یا یې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوله یا د دې کار ګمان ورباندې شوی دی.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۱۲ تنو اسناد ثبت کړي دي چې په کندهار کې د ۲۰۱۰ په لومړیو شپږو میاشتو کې د دولت ضد عناصرو له خوا وژل شوي دي. قربانیانو کې د لوړپوړو ملکی چارواکو څخه واخله د ملکی مامورینو، د شورا د غړو او نوروپه ګډون شامل دي. د فبروی په ۲ نېټه یو نامتو دولت پلوی شیعه مشر او د محمد ولي کرزی نږدې همکار د کندهار په ښار کې ووژل شو. د فبروری په ۲۴ نېټه د ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس، د کندهار د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي رئیس او د ارغستان د ولسوالۍ د پولیسو د قوماندان ورور په ښار کې ووژل شول. د اپریل په ۱۹ نېټه د کندهار د ښاروال مرستیال د لمانځه د اداء کولو پر مهال په جومات کې ووژل شو. طالبانو د دغه قتل مسوولیت پر غاړه واخیست. د اپریل د میاشتې په ۲۱ نېټه د کندهار د ښار د دریمې ناحیې د کرنې د کوپراتیف مشر په قتل ورسید. د مۍ په ۱۲ نېټه د سرپوزه د زندان د چارو مرستیال هغه مهال ووژل شو چې د کار په لور له کور څخه روان وو. د جون په ۱۵ نېټه د شاه والی کوټ د شورا یو غړی په ښار کې ووژل شو.

**د ولایتي ملکي چارواکو موخه ییز قتلونه**

د دولت ضد عناصرو ولایتي چارواکي د چاودیدونکو تعبیه شوو وسیلو او اختطافونو د لارې د هیواد په کچه تر هدف لاندې راوستي دي چې په دې کې د ولایتونو والیان او مرستیالان شامل دي. د جنورۍ په ۷ نېټه د خوست د ولایت مرستیال والی په خپل دفتر کې د ځای پر ځای شوې چاودیدونکې وسیلې د لارې ټپي کړای شو. د جنورۍ په ۱۷ نېټه د هرات ولایت د چشت شریف د ولسوالۍ ولسوال د نورو شپږو ملکی وګړو سره یو ځای ووژل شو. د جون په ۱۵ نېټه د میدان وردګو د ولایت د سید آباد د ولسوالۍ ولسوال د دولت ضدعناصرو له خوا وتښتول شو او وروسته بیا ورڅخه سرپرې شو. د جون په ۱۵ نېټه د کندهار ولایت د ارغنداب د ولسوالۍ ولسوال د چاودیدونکو موادو څخه د ډک موټر په وسیله چې د ده د سپرلۍ د موټر سره یې وجنګولو و وژل شو.

**غیر قانوني کنټرولي نقطې/ پوستې**

په ځینو حالاتو کې د دولت ضد عناصر د افغانستان د امنیتي ځواکونو په لباس کې غیر قانوني کنټرولي نقطې جوړوي، ملکی ترانسپورتي وسایل دروي. دهغوي سپرلۍ ډاروی او په ځینو حالاتو کې هغوي په دې پلمه چې د افغانستان د دولت او نړیوالو پوځونو لپاره کار کوي وژني. په جنوب ختیځه سیمه کې د مۍ په میاشت کې د دولت ضد عناصرو چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو یونیفورم یې درلود ترانسپورتي وسیلې ودرولې او مسافرین یې په دې تورن کړل چې "د دولت ضد عناصرو پلویان" دي، هغو سپرلیو چې د دولت د ماموریت کارتونه او د نړیوالو ځواکونو سره د کار کولو کارتونه یې وښودل ووژل شول.

د مۍ د میاشتې په ۱۵ نېټه طالبانو شپږ مسافرین په غیر قانوني کنټرولي پوستې د خوست د ولایت د تیر یزی د ولسوالۍ د سپینې پیالې په کلی کې ودرول. دغه مسافرین د هغه واده د مراسمو ګډون وال و چې له پاکستان څخه بیرته راستنیدل. د دې لپاره چې دا معلومه کړي چې آیا مسافرین د افغانستان د دولت او یا هم نړیوالو نظامي ځواکونو لپاره کار کوي، طالبانو پرته له دې چې ځانونه معرفي کړي مسافرین په دې تورن کړل چې د دولت ضد عناصرو پلویان دي. د دې لپاره چې دغه تورونه یې رد کړي وي مسافرینو د خپل کار د هویت کارتونه وښودل. دوه مسافرین خوشي شول او پاتې نور څلور تنه یې چې په کې زوم هم شامل و ووژل. د راپور له مخې زوم د نړیوالو نظامي ځواکونو ترجمان وو او نورو قربانیانو په دولتی او خصوصي امنیتي کمپنیو کې دندې درلودې. طالبانو قربانیان په دې تورن کړل چې هغوي جاسوسي کوي او د دغې پیښې مسوولیت یې پر غاړه واخیست.

غیر قانوني کنټرولي پوستې د دولت ضد عناصرو له خوا په سهیل، سهیل ختیځ، ختیځ او د افغانستان په مرکزي سیمو کې جوړې شوې دي. د دولت ضد عناصر د دغو کنټرولي پوستو څخه د ملکي کسانو څخه د پیسو د اخیستلو او همدارنګه د هغو افغانانو په منظم ډول د ډارولو او تر هدف لاندې د راوستلو د کمپاین په توګه کاراخلي چې د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو لپاره کار کوي. هغه ملکي کسان چې په دغو غیر قانوني کنټرولي پوستو کې درول کیږي ځورول کیږی او ډارول کیږی او په ځینو حالاتو کې اختطاف او وژل کیږي. د دغو کنټرولي پوستو له امله په جدي توګه د ملکي کسانو د خوځښت لپاره ستونزې رامنځته شوې دي.

**شب نامي**

هغه شب نامي چې د هيواد په کچه د دولت ضد عناصرو له خوا ويشل کيږي، زياتره وخت د عوامو د اوسيدو په سيمو کې د جوماتونو او دولتي ودانيو په شمول ځړولې کيږی او په کې ټولنو ته د دې اخطار ورکول کيږي چې د افغانستان د دولت او نړيوالو نظامي ځواکونو څخه ليرې پاتې شي. شب نامو کې د دې اخطار ورکول کيږي چې ټوله ټولنه بايد خپلې نجونې ښوونځي ته و نه استوي، او نه هم د دې اجازه ورکړی چې هغوي د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو سره يو ځای شي، او پر ښوونکو او دولتي مامورينو باندې غږ کوي چې کار پريږدي. د مې په مياشت کې د دولت ضد عناصرو د لوګر، کنړ، بدخشان او بلخ په ولايتونو کې شب نامې خپرې کړي او په هغو کې يې خلکو ته د دې ګواښ ورکړی وو چې د ولايتي چارواکو، يا هم د نړيوالې ټولنې سره همکاري پريږدي او د افغانستان د امنيتي ځواکونو له ليکو څخه و وځي.

**پر ښځو او ماشومانو باندې بريدونه**[18]

د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې د تعبيه شوو چاوديدونکو وسيلو او ځانمرګو بريدونو له امله چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شول زياتره ښځو او ماشومانو ته په کې تلفات اړول شوي دي.

د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې د يوناما د بشري حقونو څانګې د ۳۹ ښځو او ۷۴ تنو ماشومانو وژنې ثبتې کړې دي چې د تعبيه شوو چاوديدونکو وسيلو د چاودنو او يا هم ځانمرګو بريدونو په نتيجه کې ترسره شوې دي. دا د ۲۰۰۹ کال د همدغې مودې په پرتله ۴۴ سلنه د ښځو او ۱۵۵ سلنه د ماشومانو په وژنه کې زياتوالی په ډاګه کوي.[19] د روان کال د جنوری په ۶ نېټه يوه چاوديدونکې وسيله د ګڼې ګوڼې په سيمه کې چيرته چې نړيوال نظامي ځواکونه او د افغان ملي پوليسو کتار تيريده د ننګرهار د ولايت د روداتو د ولسوالۍ د حصارک مزينې په سيمه کې وچاوديدله چې له امله يې ۴ تنه ماشومان ووژل شول او نور ۶۸ تنه يې ټپيان شول. د دغو ماشومانو له ډلې څخه ۵ تنه يې د ښوونځي زده کوونکې و. دغه په کور کې جوړه شوې چاوديدونکې وسيله کې د راپور له مخې تيز او تيره شيان او توکي (ميخونه، ښيښې او پيچونه) ځای پر ځای شوې و.

ملکي نقليه وسايط چې د سړک پر غاړه د ځای پر ځای کړای شو چاوديدونکو وسيلو د چاودنو سره مخ کيږي زياتره وخت د هغو په پايله کې ښځې او ماشومان قرباني کيږي. دا د ډيرې انديښنې وړ ده چې تعبيه شوې چاويدونکې وسيلې په مصروفو او د ګڼې ګوڼې د بازارونو په ساحو کې چې ځينې وختونه هغه د بايسکلونو د پاسه نصب کيږي د موسسو او تاسيساتو او د پارکونو په شاوخوا کې چې هلته ښځې او ماشومان ګرځي راګرځي، درول کيږي.

> د روان کال د فبرورۍ په مياشت کې لږ تر لږه ۱۲ تنه ملکی وګړي چې په کې درې ښځې او دوه ماشومان شامل وو ووژل شول او درې ښځې او دوه ماشومان ژوبل شول کله چې د هغو د سپرلۍ موټر د سړک پر غاړه د ځای پر ځای کړای شوې چاوديدونکې وسيلې سره ونښت چې د هلمند ولايت د نوزاد د ولسوالۍ د خواجه جمال د ساحې څخه په حرکت کې وو. د اپريل د مياشتې په ۴ نېټه د همدغې کورنۍ څو تنه غړي چې په کې درې ښځې او يو کلن ماشوم شامل و ووژل شول او دوه تنکی هلکان او يوه درې کلنه نجلۍ د غزنی ولايت په غزنی ولسوالۍ کې ټپيان شول کله چې د هغوي نقليه وسيله د پوليسو د پوستې سره د سړک پر غاړه د تعبيه شوې چاوديدونکې وسيلې سره په تصادم کې شوه.

يوه له هيښوونکو مسالو څخه د ماشومانو هغه پرخپل سر وژنې دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا د افغانستان دولت ته د جاسوسۍ په تور ترسره کيږي. د يوناما د بشري حقونو څانګې څلور جلا جلا پيښې ثبت کړې دي چيرته چې د دولت ضد عناصرو د راپورونو له مخې ماشومان د اختطاف څخه وروسته سملاسي د جاسوسۍ په تور اعدام کړي دي. د روان کال د مارچ د مياشتې په ۸ نېټه د وردګو ولايت د چک د ولسوالۍ د شيخ ياسين د کلي څخه يو ۱۷ کلن زده کوونکی د شک له مخې طالبانو د شپې پر مهال له خپل کوره را وويست او د ځان سره يې يوړ او سهار مهال يې مړی وموندل شو. طالبانو هغه په دې تورن کړی وو چې د دولت سره کار کوي د جون په ۲۹ نېټه يو ۱۲ کلن هلک د غزني ولايت د واغز د ولسوالۍ په مرکز کې د دولت ضد عناصرو له خوا په عام

---

[18] د ۲۰۱۰ د اګست په مياشت کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی به په جګړه کې د ماشومانو په اړه د هغو سرغړونو کالني راپور خپور کړي چې په افغانستان کې د وسله والې شخړې په ترڅ کې ترسره شوې دي. د يوناما د بشري حقونو څانګه د هغو پيښو چې په راپور کې يې يادونه شوې ده په يادولو سره پر ماشومانو باندې د جګړې د اغيزو له امله خپلې انديښنې څرګندوي. په افغانستان کې په وسله واله شخړه کې د ماشوم د حقونو څخه د سرغړونو په اړه د لا ژورو راپورونو لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازي راتلونکی راپور په جګړه کې د ماشومانو په اړه وګورئ.

[19] د افغانستان د ماين پاکۍ د همغږۍ د مرکز د راپور له مخې، ۳۰۱ ملکی وګړي د ماينونو او نا چاودو توکو چې د جګړې څخه پاتې دي د ۲۰۱۰ په لومړۍ نيمايي کې قرباني شو ي دي چې له هغو څخه ۱۸۵ تنه يې ماشومان و.

محضر کي اعدام شو. د دغه هلک د وژلو لامل څرګند نه دی. د جون د میاشتي په ۱۰ نیټه یو اوه کلن هلک د هلمند د ولایت د سنګین ولسوالی کي د طالبانو له خوا په عام محضر کي په دار شو. که څه هم قبیلوي تشنج کیدلای شي یو لامل وي، طالبانو هلک په دې تورن کړی وو چي دولت ته یې جاسوسي کوله.

د جګړې اغیزي پر ښځو او ماشومانو باندې جدي عواقب او پایلي لري چي هغه دوام کوي؛ بنسټیزو خدمتونو لکه روغتیا او ښووني ته رسیدنه په شدیده توګه زیانمنه شوې ده. د دولت ضد عناصرو له خوا ډاکټران او طبي کارکوونکي چي په کي واکسیناتوران شامل دي وژل شوي او یا هم تښتول شوي دي، د دغو بریدونو له امله نه یوازې د هغو خدمتونو کیفیت اغیزمن شوی دی چي افغانانو ته رسیږي بلکي همدارنګه د طبي پاملرني خدمتونو ته رسیدنه هم اغیزمنه شوې ده. د دولت ضد عناصرو د پوهنې تاسیسات تر بریدونو لاندې راوستي دي، ښوونکي او زده کوونکي یې ځورولي او تهدید کړي دي . د دې په پایله کي ښوونځي یا ویجاړ شوي او یا هم تړل شوي دي چي دا د تل لپاره ده او یا هم په لنډ مهاله توګه او د دې سره د زرګونو زده کوونکو تعلیمي امکانات له منځه تللي په تیره بیاد هیواد په جنوب، جنوب ختیځ، شمال او مرکزي سیمو کي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا یو پریکړه لیک[20] د ۲۰۱۰ په جولای کي تصویب کړی دی چي د هغه له مخي د ښوونځیو او زده کوونکو پر ضد بریدونه غندل شوي دي په تیره بیا په افغانستان کي د نجونو د ښوونځیو پر خلاف بریدونه.

هغه شب نامې چي په کي د دولت ضد عناصرو له خوا ښوونکو او زده کوونکو ته اخطار ورکړل شوي دی چي ښوونځیو ته ولاړ نه شي د افغانستان په جنوب، جنوب ختیځ، مرکزي او شمالي برخو کي ویشل شوی دی. د روان کال د فبرورۍ د میاشتي په ۲۹ نېټه د بغلان د ولایت په پلخمری کي د نجونو د ښوونځي مشرې د تهدید او ګواښ لیکونه تر لاسه کړل، چي د ګومان له مخي د طالبانو له خوا و، په دغو لیکونو کي نوموړې ته اخطار ورکړل شوی وو، چي ښوونځی وتړي او د دې پرته د هغې ماشومان به ووژل شي. د یوناما د بشري حقونو څانګي داسي قضیبې ثبتي کړې دي چي له مخي یې په هغو لارو چي په تیره بیا پرې ښځینه زده کوونکي ښوونځي ته پلې ځي تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې ځای پر ځای او په پایله کي یې تلفات رامنځته کړي دي.

**حساب ورکونه**
د دولت ضد عناصرپه افغانستان کي په داسی حال کی فعالیت کوی چی له معافیت څخه برخمن وی. د یوناما د بشري حقونو څانګی دا مشاهده کړې ده چي په داسي حال کي چي طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوی لپاره په ظاهره سره ژمني کړي دي، د هغو په شمول چي د طالبانو د ۲۰۰۹ کال د سلوک په څو بیلا بیلو مقرراتو کي موندل شوې، په دې اړه هیڅ معلومات نشته چي آیا د طالبانو قوماندانانو دغه مقررات په اغیزمنه توګه عملي کړي دي او که نه. د یوناما د بشري حقونو د اسنادو له مخي چي د ملکي تلفاتو د مستند کولو په هکله دي او طالبانو ته منسوب دي، د دې څخه دا جوتیږي چي د ملکي کسانو د مړیني او ټپي کیدو د مخنیوی په اړه طالبانو خپلی ژمني نه دي عملي کړي او ورته درناوي نشته.

د افغانستان دولت زیاتره وخت په دې کي پاتي راغلی دی څو د عاملانو د تفتیش، نیوني او مجازات عمل ترسره کړی چي په دې کي د دولت ضد له عناصرو څخه کوم یو هم شامل وي څو هغه د مجازاتو د داخلي قوانینو، د نړیواله بشردوستانه قانون او یا هم د بشري حقونو د انطباقي قانون لاندې مجازات شوی وی. د افغانستان کمزوري نظام او هغه عدالتي نظام چي د زیرمو کمښت سره مخ دی، زیاتره وخت د تورنو کسانو د محاکمې د عادلانه معیارونو په برخه کي او د قربانیانو لپاره د عدالت او انصاف په برابرولو کي پاتي راغلی دی. اوس مهال د پخلاینې او بیا یو ځای کیدلو پروګرامونو باندې د تمرکز له لارې چي د دولت او د هغو طالبانو ترمنځ چي د جګړې څخه لاس اخلي او د اساسي قانون د رناو ي کوي، د جوړې په معنی دی، دولت د دې خطر سره مخ کوي چي د عفوې او یا ادغام د لارې د معافیت حالت د هغو کسانو لپاره رامنځته کړي چي د جګړې پر مهال یې جدي او غټ جرمونه ترسره کړي وي. په عین وخت کي دغه ډول اقدامات همدا ډول د دې خطر لري چي د ملکی وګړو تحفظ کمزوري شي او په دې توګه د تحفظ او احتساب هغه خالیګاه چي همدا اوس په افغانستان کي شتون لري لا پسې ژوره شي.

---

[20] دغه پریکړه لیک د افغانستان او د امریکا د متحده ایالاتو ګډ پریکړه لیک دی. دغه پریکړه لیک د رایو په اتفاق تصویب شوی دی. دغه پریکړه لیک د ملګرو ملتونو په مطبوعاتي اعلامیه کي چي د ۲۰۱۰ د جولای په ۲۶ خپره شوي ده ، اعلام شوی دی.

**دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه**

**عمومي کتنه**

د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ او جون ترمنځ ۳۸۶ ملکي تلفات (مړينې او ژوبلې) دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې دي. د يوناما د بشري حقونو څانګې ۲۲۳ ملکی مړينې او ۱۶۳ ټپي کيدني ثبت کړې دي. دغه ارقام د ملکی مړينو په برخه کې ۲۹ سلنه زياتوالی څرګندوي چې د ۲۰۰۹ کال د همدغې مودې په پرتله د دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوي دي. د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې د يوناماد بشري حقونو څانګې ۶۹ مړينې چې د هوايي بريدونو (د ۲۲۳ مړينو ۳۱ سلنه جې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب دي)، ۴۱ مړينې د تالاشيو او نيونو د عملياتو پر مهال چې زياتره يې د شپې پر مهال بريدونه دي (۱۸ سلنه د ټولو ملکي وژنو ده چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا شوې دي) او ۳۶ مړينې د ځواکونو د تحرکاتو او سوقياتو د پيښو له امله دي (چې ۱۶ سلنه د ټولو هغو مړينو ده چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا شوې دي). د يوناما د بشري حقونو څانګې د ښځو ۴۲ مړينې او ۲۵ ټپي کيدنې د ماشومانو ۵۱ مړينې او ۲۶ ټپي کيدنې د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې ثبت کړې دي چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې دي. دا د ۲۰۰۹ کال د همدغې مودې په ترڅ کې د ښځو په مړينه کې ۴۲ سلنه او د ماشومانو په مړينو کې ۵۰ سلنه کمښت څرګندوي.

**د ۲۰۱۰ په لومړيو شپږو مياشتو کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب مرګونه چې د پيښې د نوعيت پر اساس دي**




داسی ښکاري چی د شورشيانو ضد د مبارزې لپاره د ايساف لارښودونو، تاکتيکي فعاليتونو او د ايساف د ځواکونو د قوماندان بيلا بيلو هغو اعلاميو چې ځواکونو ته د ملکي تلفاتو د کمولو په لړ کې صادرې شوې دي د ۲۰۱۰ د جنورۍ څخه تر جون پورې په ملکي تلفاتو کې کمښت راوستی دی. د دې سره سره د يوناما د بشري حقونو څانګې دا يادښت کړې دی چې ملکی وګړي (په ټيټه شميره کې) لا هم وژل کيږي، ټپي کيږي او پخپل سر پرته د قانوني مراحلو توقيف او ملکيتونه يې زيا نمن او يا هم ويجاړ يږي چې دا هر څه د ځينو هغو عملياتو په ترڅ کې رامنځ ته کيږي چې د نړيوالو ځواکونو او افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا ترسره کيږي.

د نړيوالو نظامي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره هلې ځلې په ۲۰۰۸ کې د دغه کال د سپتمبر او ډسمبر د مياشتو د تاکتيکي لارښودونو او د ۲۰۰۹ د جولای د مياشتې د هغه لارښود په وسيله چې د هوايي بريدونو د محدودولو په برخه کې دي، په ترڅ کې پيل شوې.[21] په ملکي تلفاتو کې عمومي کمښت زياتره د

[21] د ۲۰۱۰ کال د اګست په ۴ نېټه د ايساف قوماندان يو تازه تاکتيکي لارښود صادر کړ چې د هغه له مخې د ايساف او د امريکا د متحده ايالاتو د ځواکونو چې د افغانستان د عملياتو لپاره دی د "ځواک د کاروني ډسپلين" لارښوونه کوي. دغه تازه دايريکتيف د ۲۰۰۹ د جولای د مياشتې لارښود تعويض کړ. د ايساف مطبوعاتي اعلاميه چې د لارښود د صدور په اړه ده اعلاموي چې "په دې باندې په ټينګار

هوايي بريدونو له امله (هغه تاکتيک چې د نړيوالو ځواکونو له خوا د زياتې شميرې ملکی تلفاتو لامل کيږي) د دې ښکارندوي دی چې د نړيوالو نظامي ځواکونو پريکړو د ملکي تلفاتو د زياتوالی مخنيوی په داسې حال کې رامنځته کړ چې په ۲۰۱۰ کې اضافي ځواکونه افغانستان ته را داخل شول. نړيوال سوله ساتي ځواکونو په ۲۰۱۰ کې نور تدابير ونيول چې د نړيوالو نظامي عملياتو اغيزې په ملکي وګړو باندې راکمې کړي او د دې کار لپاره يې دوه لارښودونه صادر کړل چې هغه په افغانستان کې د ايساف او د امريکې د متحده ايالاتو پر ځواکونو باندې د پلې کيدو وړ دي: يعنی د ۲۰۱۰ د جنوری د مياشتې د ۲۳ نېټې تاکتيکي لارښود (دايريکتيف) چې د شپې له خوا د بريدونو په اړه دی، او د ځواکونو د سوقياتو په اړه د عملياتو معياري طرز العملونه چې د لومړی ځل لپاره د ۲۰۱۰ د فبروری په ۱۹ نېټه نشر شول او د ۲۰۱۰ کال د اپريل په ۱۹ نېټه د سره نوی شول.

د يوناما د بشري حقونو څانګې دا مشاهده کړې ده چې لږ تر لږه د ۲۰۰۹ کال جولای د نيمايي څخه د ۲۰۱۰ د جون د مياشتې پورې هغه هوايي بريدونه چې په پايله کې يې د استوګنې ځايونه تر بريد لاندې راغلي وي او په کې زيات ملکی تلفات وي ډير کم و. دا د دې څرګندويه ده چې د نړيوالو ځواکونو له خوا د استوګنې پر سيمو باندې بريدونو محدودولو سره د زياتو تلفاتو په مخنيوی کې مرسته کړې.

د رسينو د راپورونو له مخې د ايساف قوماندان د امريکا د متحده ايالاتو اکثريت ځانګړي ځواکونه د ۲۰۱۰ د مارچ په مياشت کې تر دغې قوماندې لاندې راوستل چې د نظامي عملياتو په برخه کې زيات يو والی او همغږي رامنځته کړي. د يوناما د بشري حقونو څانګې ته زياتره وخت دا ستونزمنه ده چې دا پيدا کړي چې ايا په دغو مشخصو عملياتو کې د امريکا د متحده ايالاتو ځانګړی ځواکونه دخيل و او که نه، ځکه چې اکثريت شاهدان او قربانيان د منظمو نړيوالو ځواکونو او ځانګړو ځواکونو ترمنځ توپير نه شي کولای. د دې سربيره د ډيرو هغو عملياتو چې په کې ځانګړی ځواکونه دخيل وي معلومات نه خپريږي او يا دا چې په محدود ډول ملکي وګړو ته د معلوماتو د غوښتنې په صورت کې د عملياتو په اړه څرګندوني کيږي.

د زيات ځواک کارول، ناوړه سلوک، وژنې او ټپي کيدنې ملکي وګړو ته په ځينو حالاتو کې هغه وخت واوښتلې چې په کې ځانګړو ځواکونو ګډون درلود چې په دې اړه د يوناما د بشري حقونو څانګې تفتيش ترسره کړی دی. د فبروری د مياشتې د ۱۲ نېټې د شپې له خوا په ګرديز ښار کې هغه بريد چې په هغه کې پنځه ملکي وګړي ووژل شول او د فبروری د مياشتې د ۲۱ نېټې هغه بريد چې د ارزګان په ولايت کې وشو او په پايله کې يې ۲۱ تنه ملکي وګړي له منځه ولاړل دا د هغو پيښو ښکارندوی ده چې په کې ځانګړو ځواکونو ګډون کړی دی (لاندنی بکسونه وګورئ). د يوناما د بشري حقونو څانګه د دغه خوځښت هرکلی کوی چې په سمه توګه د امريکا د متحده ايالاتو د ځانګړو ځواکونو دغه عناصر د ايساف د قوماندې لاندې راولي. که څه هم نورو معلوماتو ته اړتيا ده چې دا جوته کړي چې څومره ځواکونه او کوم قطعات د ځانګړو ځواکونو، چې په کې هغه ځواکونه هم شامل دي چې هغه د پاينټ لرونکي ازادی د عملياتو برخه ده، او دا چې د ايساف تر قوماندې لاندې راوستلو سره د هغو تلفاتو په برخه کې چې د متحده ايالاتو د ځانګړو قواو عملياتونو کی را منځ ته کيږی، لا زيات شفافيت او حساب ورکونه رامنځته شوی او که نه.

**د نظامي تاسيساتو موقعيت**

لکه چې په پخوانيو راپورونو کې يې يادونه شوې ده، د يوناما د بشري حقونو څانګه د نظامي اډو او د کنترولی پوستو د هغه نږدې موقعيت څخه انديښنه لري چې د ملکي وګړو د ساحو سره يې لري. د يوناما د بشري حقونو څانګې په ګڼو پيښو کې دا مستنده کړې ده چې دولت ضد عناصرو د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو ځواکونو د څارنې پوستې، اډې او سرحدي پايګاوې په ښارونو او د اوسيدنې په ساحو کې د ځمکنيو ښنتو، د هاوانونو او راکټونو د بريدونو لاندې راوستي دي. زياتره وخت هاوان د دوی د هدف ځای ته نه دی رسيدلی، د ملکي وګړود مړينې او ټپي کيدنې لامل شوی او ملکي شتمنيو ته يې تاوان اړولی دی. هغه پر شاتمبونې او د غچ اخيستنې کوم اقدامات چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو نظامي ځواکونو له خوا د توپچې قوې د کارونې په وسيله د دولت ضد عناصرو د موقعيت پر سيمو شوې دي، زياتره وخت يې همدغه ډول پايلې درلودلې.

---

درلودلو سره چې د بې ګناه ملکی وګړو د ژوند د ضياع د حد اقل کولو لپاره په عملياتو کې هلې ځلې وشي، په دې هم ټينګار لري چې زموږ قطعات دا حق او مکلفيت لري چې د ځانونو او د ايتلاف او افغان ځواکونه له چا سره چې موږ څنګ په څنګ خدمت کوو دفاع وکړي." د دغه لارښود يوې غير محرمه برخه کې راغلی دي، "موږ (ايساف) بايد دې هڅو ته ادامه ورکړو، هغه دوه برابره کړو څو په مطلق ډول د بې ګناه د وګړو د ژوند ضياع او زياتيدل حد اقل ته ورسوو. د هر ملکی افغان وژنه زموږ د موخې راټيټدل دي. که چيرې موږ زيات ځواک وکاروو او يا هم د شورش ضد مبارزې د اصولو خلاف عمليات وکړو نو تاکتيکي برياليتوبونه به د دې لامل وي چې ستراتيژيک شاتګونه ولرو." "د ايساف قوماندان تازه شوی تاکتيکي دايريکتيف صادروي." د ايساف خبر پاڼه، ۱۴ اګست، ۲۰۱۰

د یوناما د بشري حقونو څآنګې د هلمند ولایت د مارجې او نادعلی په ولسوالیو کې د مشترک تر نامه لاندې د عملیاتو پر مهال ډیرې داسې پیښې ثبت کړې دي کله چې د نظامې ځواکونو له خوا جوړې شوې پوستو د خلکو د ګرځیدو راګرځیدو لپاره په تیره بیا د هغو کسانو لپاره چې ټپی شوي او د طبي مرستو په لټه کې دي ستونزې او بندیزونه رامنځته کړل. کله چې جنګې عملیات پای ته ورسیدل دولتي او نړیوال نظامي ځواکونه د اوسیدنې په سیمو کې پاتې شول چې د دې سره د طالبانو د بریدونو په وړاندې ملکي وګړي د ګواښ سره مخ پاتې شول. د ایساف د قومندانۍ لاربنود چې د شورشیانو پر ضد د مبارزې د عملیاتو لپاره جوړ شوی دی، په کې پر خلکو د تمرکز روش ته پام شوی دی او هغه په دې ولاړ دی چې د خلکو ملاتړ تر لاسه شي او د پرمختیایي چارو لپاره د امن مساعد چاپیریال رامنځته شي. د استوګنې په سیمو کې او یا هغو ته نږدې د نظامي اډو جوړول په تیره بیا د جګړې په سیمو کې د دې سبب کیږي چې نړیوال نظامي ځواکونه ملکي وګړي د ډیر زیات خطر سره مخ کړي. په دغه ډول سیمو کې افغان ملکي وګړي نه یوازې د غیر متناسبو او نا انډولو او بې توپیره هغو بریدونو سره مخ کیږي چې دولت ضد عناصر یې ترسره کوي، بلکې د دې سره یو ځای د هاوان او راکټي هغو بریدونو له امله چې نړیوال نظامي ځواکونه یې د دولت ضد عناصرو پر ضد کوي اوپه غلطۍ سره خپل هدف ته نه رسیږي او د اوسیدنې ځایونو کې غورځې، مړینې او ژوبلیدنې رامنځته کوي.

## د پراخې کچې نظامي عملیات

### د هلمند په ولایت کې د مشترک په نامه عملیات

د جګړې له امله د ځپل شویو ټولنو له خوا د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د دې راپورونه رسیدلي دي چې پراخه او ستر عملیات تر زیاته حده د خلکو له خوا نه منل کیږي ځکه داسې انګیرل کیږي چې د هغو په پایله کې نا امني زیاتیږي او د سیمې او اوسیدونکو لپاره د ژغورنې امکانات کموي. د بیلګې په ډول د هلمند ولایت د نادعلی او مارجې په ولسوالیو کې د مشترک په نامه عملیات د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې وشول خو د هغو په نتیجه کې محلي اوسیدونکو ته د تحفظ امکانات زیات نه شول. لکه چې د یوناما د بشري حقونو څانګې دا ثبت کړې ده چې د جون تر ۲۳ نیټې پورې د مارجې په ولسوالۍ کې ۷۴ تنه ملکی وګړي ووژل شول. د دې څخه ۲۳ ملکي وژنې د دولت پلوه ځواکونو وې، ۳۲ تنه ملکي کسان د دولتی ضد عناصرو له خوا ووژل شول او ۱۳ تنه ملکي وګړي د نا څرګندو کسانو په لاس ووژل شول. ملکی وګړي د تعبیه شویو چاودیدونکو وسایلو، هوایي بریدونو، یرغلونو، او د ځواکونو د تحفظ د پیښنو له امله د فبرورۍ د ۱۳-۲۴ پورې په مارجه کې وژل شوي دي. د ملګرو ملتونو د کډوالود چارو د عالی کمیشنرۍ د وینا له مخې ۳۷۱۹ کورنۍ د جون د ۱۳ نیټې پورې د جګړې له امله بېځایه شوې.

له هغه ځایه چې په مارجه کې د سترو جګړیزو عملیاتو د بشپړتیا وروسته د طالبانو له خوا د ملکي وګړو ډارونې د تحفظ او ژغورنې په برخه کې د دغې سیمې لپاره د ټاکونکې اندیښنې په توګه پاتې شوې، طالبانو د ملکي وګړو په تښتوونو، وژنو او اعدامونو پیل وکړ. هغوې چې د طالبانو د برید موخه وګرځیدل په کې محلي اوسیدونکې، ښوونکې، هغه ملکي کسان چې غوښتل یې په دغه سیمه کې یو سیاسی نقش ولري، هغوې چې نړیوالو نظامې ځواکونو ته په جاسوسۍ تورن و، افغان ساختماني کارکوونکې او هغه ملکي وګړي چې د دولت او نړیوالي ټولنې څخه یې مرستې تر لاسه کړې دي، شامل دي. ولایتي چارواکي په دې کې پاتې راغلل چې په سیمه کې اغیزمن حضور ثابت کړي او دا ځکه چې د طالبانو له اړخه تشدد او ډارونو دوام وموندلو.

د فبرورۍ د وروستیو ورځو څخه د جون تر پای پورې د ډارونې په هغو پیښنو کې چې د جګړیزو عملیاتو وروسته ترسره شوې ګڼ شمیر ملکي وګړي ووژل شول. د دې په نتیجه ډیری کسان د هغو سیمو څخه چې ورته نه شو ورستنیدلای بېځایه شول او په دې توګه د راستنیدنې بهیر سوکه شو. هغه پرلپسې تشدد او تجاوز چې په مارجه کې د طالبانو له خوا یې دوام وکړ، د تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو او ماینونو د کارولو سره دوه برابره شو او په جدې توګه یې د ملکی وګړو ورځنی ژوند اغیزمن کړ. په دغه سیمه کې ملکي وګړي د دې ډیر امکانات لري چې په ازادانه ډول خوځښت ولري او ماشومان یې ښوونې ته لاس رسي نه لري[22] او په دې توګه زیاتره ښوونځي تړلې و او په پرمختیایي پروژو کې ګډون ډیر ستونزمن وو.

[22] د یوناما د یو شمیر منابعو له مخې یوازې یو ښوونځي په دغه ښارګوټي کې د سترو عملیاتو وروسته د ۲۰۱۰ د فبرورۍ په ۲۵ نېټه بیرته پرانیستل شو.

**په کندهار کې د همکارۍ په نامه عملیات**

د همکارۍ عملیات[23] د کندهار په ولایت کې د ناټو د عمومي منشي د ۲۰۱۰ کال د مۍ د میاشتې د مقالې له مخې،[24] هغه کمپاین چې د کندهار په ولایت کې "سیاسي وضع بدله کړي، په تدریجي توګه امنیت تقویه کړي، حکومتداري تقویه او د شورشیانو تر اغیز لاندې سیمو کې د حکومت واک ته پراختیا ورکړي." د لومړني پړاو موخه دا ده چې د ژغورنې د ځواک امنیتي کړۍ "د فولادو کړۍ" چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواک کنټرولي پوستې دي رامنځته کړي څو چې د کندهار ښار ته د ننوتلو ټولې نقطې کنټرول کړي. د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو فعالیتونه به همدارنګه په لیرو پرتو ولسوالیو کې لکه د ژیړۍ، ارغنداب او پنجوایي په ولسوالیو کې د نړیوالو امنیتي ځواکونو د ملاتړ سره سم متمرکز شي او دا د دې لپاره چې تر ممکنه حده پورې د جګړیزو عملیاتو مخنیوي وشي. افغان او نړیوالو ځواکونو د همکارۍ د عملیاتو دوهم پړاو د جولای په ۲۱ نېټه د ټیټې کچې د عملیاتو په توګه د ارغنداب په ولسوالۍ کې پیل کړ.

د ډیرۍ هغو محلي مشرانو چې د کندهار د ښار د شاوخوا سیمو څخه و او ورسره د یوناما د بشري حقونو د څانګې د کارکوونکو له خوا لیدنې ترسره شوې، هغوي په جدي توګه ددولت پلوه ځواکونو له خوا په راتلونکې نږدې وخت کې د عملیاتو د ترسره کولو سره مخالفت وښود. مشرانو څرګنده کړه چې دغه ډول عملیات به د هغوي د ټولنو سره په دې کې مرسته و نه کړي چې د طالبانو څخه وژغولې شي او نه به هم د ملکي وګړو لپاره په امنیتی حالت کې ښه والی راولي، بلکې برعکس د هغوي په ولسوالیو کې به همدغه نا امنه حالت لا هم نا امنه کړي. محلي مشرانو د دې راپور ورکړ چې د هغوي په نظر هر ډول راتلونکي عملیات به په دې کې پاتې راشي چې په سیمه کې د طالبانو فعالیت ودروي، او هغه به زیات ملکي تلفات رامنځته او د دوي د کورونو او محصولاتو د ویجاړولو لامل به وګرځي. هغوي د دې له امله په ځانګړې توګه اندیښمن و چې نړیوال ځواکونه نه شی کولای د طالبانو او ملکي کسانو ترمنځ توپیر وکړي (حتی که نړیوال ځواکونه د دې کار لپاره بیومتریکي وسیلې هم وکاروي). او دا چې طالبان د تل لپاره د ملکی وګړو څخه د انساني ډال په توګه کار اخلي او دا د "چریکی جګړې" وسیله ده، همدارنګه په زیاته پیمانه تعبیه شوې چاودیدونکې وسیلې او ماینونه کاروي. مشرانو هم د نړیوالو ځواکونو په اړه اندیښنې جوتې کړې او دا چې د عملیاتو د سرته رسولو پر مهال فرهنګي خبرتیا او آګاهی کمه لري، دغه ډول عملیات به د خلکو د شتمنیو د تخریب لامل وګرځي او هغوي به معیشتونه له لاسه ورکړي په تیره بیا به د هغوي رسیدلی حاصلات د نظامي عملیاتو په پایله کې له منځه ولاړ شي. مشرانو په دې تاکید وکړ چې د ایساف د پلانونو نشر چې غواړي عملیات ترسره کړي طالبان دې ته وهڅول چې زیات چاودیدونکي توکي ځای پر ځای کړی او د دولت پلوه ځواکونو پر خلاف د ډارونې کمپاین تشدید کړي.

مشرانو همدارنګه د دې خبر ورکړ چې د ولایتي چارواکو، نړیوالو ځواکونو او اغیزمنو شوو ټولنو ترمنځ ګڼ شمیر غونډې جوړې شوې چې په کندهار کې د راتلونکو عملیاتو په اړه خبرې اترې وکړي، دغه غونډې یوازې "د تصویر اخیستنې فرصتونه" و، چې په هغو کې د مشرانو اندیښنې او وړاندیزونو ته په جدي توګه پاملرنه ونه شوه. لکه چې یو تن مشر د پنجوایي د ولسوالۍ څخه د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل: "... دلته ډیرې غونډې تش په نامه جوړیږي، ایساف او حکومت هر هغه څه چې موږ یې ووایو په پام کې نه نیسي، ځکه چې موږ د ولسوالیو اوسیدونکو یو... دا سمه نه ده، او دا سپکاوی دی... دلته اکثره وخت په دغو غونډو کې عکاسان او د تلویزیون کمرې وي. په پاکستان کې همدارنګه طالبان تلویزیون لیدلای شي، کله چې وګوري چې موږ د والی سره ناست یو نو پریکړه کوي چې و مو وژني. نو ځکه کله چې یوه غونډه په نامه وي نو لومړی دا چې د دې سره زما ژوند د خطر سره مخ کیږي او بله دا چې زه د سپکاوي سره مخ کیږم."

د یوناما د بشري حقونو څانګې دا مستنده کړې ده چې له همغه وخته څخه چې د نظامي عملیاتو په اړه د ۲۰۱۰ کال په لومړیو کې خبرونه خپاره شول نو د کندهار د ښار او شا او خوا په ولسوالیو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ملکي وګړي د زیاتو قتلونو، بریدونو، ګواښونو او ډارونو سره مخ شول. ملکي وګړي زیاتره وخت د دولت ضد عناصرو د غبرګون موخه وي او یا هم دا چې د هغو د ګوزار سره مخ کیږي. د عملیاتو په اړه دعامو معلوماتو خپرولو او هر ډول راتلونکې پیل کیدونکو نظامي فعالیتونو په اړه خبرونو په کندهار کې د طالبانو فعالیت زیات کړی او په دغه سیمه کې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بلې هرې سیمې په پرتله

---

[23] د همکارۍ عملیات د افغانستان د حکومت او د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ایساف تر همکارۍ لاندې رهبري کیږي.دا یو لړ تدابیر دي چې موخه یې دا ده چې د کندهار په ښار او شا او خوا ولسوالیو کې ټیکاو او امنیت تقویه کړي. دا په درې پړاوونو ویشل کیږي. لومړی پړاو یې د کندهار په ښار کې امنیت ټینګول دي، چې دا کار روان دي؛ دوهم پړاو یې د ارغنداب د ولسوالۍ د اټکل له مخې د ۲۰۱۰ د اګست تر ۱۰ نېټې پورې پاکول دي، او دریم پړاو د پنجوایي او ژیړۍ د ولسوالیو پاکول دي چې دا کار به د سپټمبر د میاشتې د ۱۸ نېټې د ټاکنو وروسته پیل کیږي. د همکارۍ د عملیاتو په اړه معلومات په عمده ډول د یوناما د منابعو څخه تر لاسه شوي دي.

[24] "طالبان ګوزارونه کوي خو برې نه شي کولای" اندرس فوګ راسموسن، نیویارک ټایمز، ۲۴ مۍ ۲۰۱۰

زیات ملکي وګړي ووژل شول، په تیره بیا د ځای پر ځای کړای شو چاودیدونکو وسیلو، ځانمرګو بریدونو، قتلونو او تښتونو د لارې.

### د تلاشۍ او نیونو عملیات/ د شپې بریدونه

"زه حتی د خپل دښمن سره همدرده کیږم چې ورسره داسې چلند وشي."
د کندهار ولایت د ارغنداب په ولسوالۍ کې د یوه مشر سره مرکه چې د ۲۰۱۰ کال د اپریل د میاشتې د شپې له خوا برید کې موجود و.

**د ملکي وګړو اندېښنې**
د یوناما د بشري حقونو څانګې د ډېرو ملکي افغانانو سره د تلاشیو او نیونو د عملیاتو د اغیزو په اړه خبرې کړې دي، په تیره بیا زیاتره دشپې له خوا د بریدونو په اړه چې د دوي په ټولنو یې درلودلې دي. د هغوی له نظره دې پېښو د نړیوالو ځواکونو په وړاندې خورا زیاته غصه، بې باوري او خپګان رامنځته کړی دی. د شپې له خوا د بریدونو په اړه اندېښنې نوې نه دي، او دا چې زیاتره وخت بحثونه یوازې په دې نه دي متمرکز چې د شپې تلاشۍ او بریدونه په کوم دلیل کیږي، بلکې زیاتره په دې متمرکز و چې دغه ډول د شپې له خوا بریدونه څنګه ترسره کیږي، او دا چې هغه زیات ملکي تلفات راولي. د ۲۰۱۰ کال د جنوری د میاشتې د تاکتیکي لارښود له مخې د افغانستان ملي امنیتی ځواکونه باید کله چې ممکنه وي د دغو بریدونو (تلاشیو) مشري ولري. ځانګړی ځواکونه هم د نورو دولت پلوه وسله والو ډلو سره د شپې له خوا بریدونه (تلاشي) ترسره کوي. د یوناما د بشري حقونو دا یادابنت کړی ده چې د شپې له خوا بریدونه چې د ملکي تلفاتو لامل ګرځي احتمالا د هغه څه څخه زیات دي چې د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې وتوانیږي هغه مستند کړي ځکه چې په عمومي صورت سره د شپې له خوا د نا څاپي بریدونو په اړه معلومات او شفافیت نشته.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۳ د شپې له خوا د ناڅاپي بریدونه مستنده کړي دي، چې د هغو په پایله کې ۴۱ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي او ۸ نور ټپیان شوي دي، چې دا د هغو ۲۶ د شپې د نا څاپي بریدونو په پرتله چې د ۲۰۰۹ کال په همدغه موده کې شوي و او ۷۵ تنه په کې مړه او ۲۹ تنه ټپیان شوي و دي. دغه رقم ۴۵ سلنه کمښت په هغو ملکي وژنو کې څرګندوي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د شپې د ناڅاپي بریدونو پر مهال ترسره کیږي. د دغو بریدونو په پایله کې ملکي وګړي زیاتره وخت پخپل سرتوقیف او د هغوي ملکیت زیانمن او یا هم تخریب کیږي.

ډیری اغیزمنو شوو ټولنو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته راپور ورکړی دی چې د شفافیت او حساب ورکونې د نشتوالی له امله چې د شپې پرمهال د ناڅاپي بریدونو په برخه کې دی د دوي لپاره خورا زیاته اندیښنه راولي. د ټولنو او کلیوالو په اندیښنو کې دا ناتوانمندي شامله ده څو دا توپیر وکړای شي او معلومه شي چې کومو ځواکونو دغه د شپې برید ترسره کړی دی، دا چې په اغیزمن ډول د تفتیش او عدلي تعقیب چاري د هغو تیریو په اړه چې د برید پر مهال ترسره کیږي پرمخ نه ځي، د توقیف شوو کسانو د موقعیت او ځای په اړه معلومات نه وي، هغه کسان چې د برید پر مهال ټپي شوي دی طبي مرستو ته رسیدنه نه لری، او دا چې هغوي په دې نه توانیږي چې د زیانونو جبران یې وشي چې په کې د هغوی د ژوند زیانمنیدل، ټپي کیدل او د ملکیت تخریب او ویجاړتیاوې شاملې دي. ډیرو کلیوالو ټولنو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته دا معلومات ورکړل چې هغوي د اړو څخه لیرې شړل کیږي، د پامه وغورځول شي او دا چې په کراتو داسې معلومات راځي چې کله د نړیوالو ځواکونو څخه د خسارې او تاوان غوښتنه کیږي نو هغه نه تعقیب کیږي او ځواب نه تر لاسه کوی . ټولنو همدارنګه دا راپور ورکړی دی چې د هغو قطعاتو د کسانو سره د فرهنګي حساسیتونو په اړه خبرتیا نه وي چې دوي په دغو د شپې په بریدونو کې ګډون لري کله چې د خلکو کورونه اشغالوي او په تیره بیا دا کار د شپې پر مهال ترسره کوي، په خاصه توګه د ښځو د تلاشۍ پر مهال چې د نارینه وو له خوا د هغوي د اوسیدنې په ځایونو کې کیږي چې د دې سره د ښځو عزت تر پښو لاندې کیږي او همدارنګه د ټولې کورنۍ شهرت او راتلونکې ته صدمه رسیږي. کلیوالو ټولنو همدارنګه دا ندیښنې څرګندې کړې چې زیاتره وخت د ناکره او غیر دقیقو استخباراتي معلوماتو څخه کار اخیستل کیږي چې د هغو له مخې د اوسیدنې ځایونه تلاشي کیږي او په دې توګه دا د زیاتو او نه توجیه کیدونکو ملکي تلفاتو لامل ګرځي.

**د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ د میاشتې تاکتیکي لارښود**
د ایساف قوماندانۍ دا منلې ده چې د شپې له خوا ناڅاپي بریدونو ټولنې سره په دې یو ځای کړي دي چې د نړیوالو ځواکونو پر خلاف د نورو هغو تاکتیکونو په پرتله چې دولت پلوه ځواکونو له خوا کارول کیږي خپل

اعتراضات څرګند کړي. هغه تاکتيکي لارښود چې د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې صادر شوی د ی د دې لپاره دی چې د ځينو دغه ډول انديښنو ځواب ووايي او هغه د ايساف او په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د قطعاتو لپاره د تطبيق وړ دی. د يوناما د بشري حقونو څانګې دا يادابښت کړی ده چې هغه شمير د شپې د مهال نا څاپي بريدونه چې مستند شوي دي او هغه د ملکي تلفاتو لامل شوي وي کم شوی دي او دا د دې له کبله ده چې دغه تاکتيکي لارښود پلي شوی دی. دغه لارښود اعلاموي چې د "هر څه تر مخه او تر ټولو زيات غوره اقدام دا دی چې داسي نور ممکنه روشونه بايد د شپې د مهال د نا څاپي بريدونو د ترسره کولو د مخه ولټول شي چې د هغه په نتيجه کې د استوګنې محوطې او د استوګنې ځآيونه تر هدف لاندې نيسي، څو چې د امکان په صورت کې افغانان په سر کې وي او دا چې عمليات د افغانستان د دولت د مامورينو، د افغانستان د امنيتی ځواکونو او چيرته چې ممکنه وي د محلي مشرانو سره همغږي کړای شي."[25] د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه بايد د شپې د مهال په ټولو نا څاپي بريدونو کې شريک وي او د پلان کولو په پروسه کې په لومړنی ممکنه وخت کې بايد د افغانستان د حکومت استازو ته د شپې پرمهال د عملياتو په اړه معلومات ورکړل شي.

د ۲۰۱۰ کال په لومړۍ نيمايي کې د تاکتيکي لارښود د نشريدو او د شپې د مهال د ناڅاپي بريدونوپه دوران کې په ملکي تلفاتو کې د کمښت سره سره د يوناما د بشري حقونو څانګې همغه شان ځيني د تيريو او تجاوزونو نمونې ثبتې کړي دي: د يو کور د اوسيدونکو پر خلاف د ډير زيات او په بې تبعيضه ډول د قوې کارول، چې په کې ښځې او ماشومان شامل وې، د ملکيت تخريب او د کاليو او سامانونو غلا کول. په ځينو پيښو کې د يوناما د بشري حقونو څانګې دا تورونه مستند کړي دي چې د هغو له مخې د ښځو او ماشومانو سره ناوړه سلوک او د تيری چلند شوی دی. تيری او ناوړه چلند د راپورونو له مخې دوام لري او حتی دا د افغان ملي امنيتي ځواکونو په موجوديت کې او په ځينو حالاتو کې د هغوي د نيغ په نيغه فعاليت په پايله کې شوی.

د دې سربيره د شپې د مهال د ناڅاپي بريدونو په اړه د شفافيت د نشتوالی له امله ټولنې او نور کسان په دې خبر نه و چې ايا د محلي مشرانو سره مشورې شوې دي او آيا د اطمنان وړ نور روشونه لکه د سهار تر مهال د هدف لاندې د ځای محاصره او نور په پام کې نيول شوي و او که نه. په دې اړه هم د دې تعقيبول او معلومول نه وو چې آيا دغه ناڅاپي يرغل کومې نتيجې درلودلې (لکه د ګټورو معلوماتو تر لاسه کول، يا د شورشيانو او وسلې نيول). د دغه ډول شفافيت نشتوالی د اغيزمن شوو ټولنو او د افغانستان د عوامو ترمنځ د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې غصې او کرکې ته زمينه برابره کړې ده.

تاکتيکي لارښود کې همدارنګه داسې يو طرز العمل شته چې د هغه له مخې د توقيف شوو کسانو چې د شپې د يرغل په پايله کې نيول شوي دي خپلوان او کورنۍ د يوې فورمې د لارې چې په هغې کې د اړيکو تفصيلات موجود وي کولای شي د نړيوالو ځواکونو سره د توقيف پر مهال او يا هم د بيرته راستنولو او د تاوان د پوره کولو چې د هر ډول نيول شوی ملکيت او يا تخريب لپاره دی، اړيکه ټينګه کړي. په دغه فورمه کې د توقيف د لامل برخه هم شته. د يوناما د بشري حقونو څانګې د بشپړ کړای شوې فورمې د هغو دوو د شپې د يرغلونو په اړه معلومات تر لاسه کړې دي چې په هغو کې د توقيف شوو کسانو د لټون او د موضوع د تعقيب لپاره د نړيوالو ځواکونو په اړه پوره تفصيلات نه دي ورکړل شوي. يوه فورمه کې د ملکيت د تخريب او نيونې مشخصات ورکړل شوي دي خو د تعقيب او پوښتنې لپاره په کې د تماس نيولو د اړيکو معلومات نشته. دوهمه فورمه کې د توقيف شوي کس په اړه تفصيلات ورکړل شوی دي خو د کورنۍ لپاره په کې د تماس نيولو په موخه د اړيکو نيولو تفصيلات نشته څو هغه وکړای شي چې د توقيف محل ومومي.

---

[25] "ايساف په افغانستان کې د شپې پر مهال د نا څاپي بريدونو په اړه لارښود خپروي" د ايساف مطبوعاتي اعلاميه، ۵ مارچ، ۲۰۱۰

د فبرورۍ په ۱۲ نېټه نړيوالو وسله والو ځواکونو، د راپوررونو له مخې د متحده ايالاتو ځانګړو ځواکونو د افغانو وسله والو ډلو سره په ګډه د پکتيا د ولايت په مرکز ګرديز د ختابه په کلي کې د يو شخصي کور د تلاشۍ په مو خه بريد تر سره کړ. په همدغه وخت کې په نوموړی کور کې د يو کورني محفل د لمانځلو په خاطر خپلوان هلته راغونډ شوي و چې د علمياتو په نتيجه کې پنځه ملکي کسان چې د يوې کورنۍ غړي وو ووژل شول چې د هغو په جمله کې دوه ورونه هم و، چې يو يې د زرمت د ولسوالۍ د ملي پوليسو استخباراتي افسر وو، او بل يې د احمدآباد په ولسوالۍ کې د ځارنوال په توګه دنده ترسره کوله . په وژل شويو کې درې ښځې هم شاملې وې چې دوه يې اميندوارې وې. څلور کسان ټپيان شول چې د هغو په جمله کې يو ۱۵ کلن هلک هم شامل وو او اته نور کسان هم توقيف شول.

د نوموړې پيښې په اړه د يوناما د بشري حقونو د څانګي تحقيقاتو دا جوته کړه چې د متحده ايالاتو او افغان ځواکونو په فيزيکي توګه په هغه کور کې پر موجودو کسانو باندې حملې کړې وې او هغوي ژوبل کړی و، او دې ته يې اړ ايستلی و چې د څو ساعتونو لپاره په سړه هوا کې لوڅې پښې ودرېږي. د شاهدانو له مخې له هغو کسانو څخه دوه يې وروسته د وراړول شويو ژوبلتياوو او د متحده ايالاتو او افغان ځواکونو د کافي درملنې د نه برابرولو له امله مړه شول. په هماغه ورځ، څو ساعتونه وروسته د مړو شويو کسانو جنازې د ګرديز په ښار کې د اعتراض په ډول وګرځول شوې، چې د لاريون په ترڅ کې لاريونوالو د محلي چارواکود استعفاوو غوښتنه کوله، ځکه چې دوي د ملکي کسانو د وژنې له مخنيوي څخه عاجز پاتي شوې و. تر دې دمه د وژل شويو کسانو کورنۍ پر دې ټينګار کوي چې مرتکبين دې د قانون منګولو ته وسپارل شي، دوي هيڅ ډول تاوان د آيساف له خوا نه دی منلی خو د افغان حکومت له خوا هغه تاوانونه يې چې ټپيانو ته يې ورکړې وو، منلي دي. د يوناما د بشري حقونو څانګه معلومات لري چې آيساف د ناوړه چلند په اړه نور تحقيقات روان کړي دی خو د تحقيقاتو پايلې او موندنې لا تر اوسه پورې نه دي خپرې شوي.

په داسې حال کې چې د شپې له خوا تلاشي د دې هدف لپاره په لاره اچول کيږي چې هغه کسان توقيف کړي چې په فعاله توګه په شخړه کې ونډه لري، خو د يوناما د بشري حقونو څانګې دا مستنده کړې ده چې حکومت پلوه ځواکونو ډير نور نارينه کسان هم د دغو تلاشيانو په ترڅ کې بنديان کړي دي. دا ډول بندي کول، د غلطو معلوماتو له مخې،د ناکافي معلوماتي سرچينې او يا کله کله هم د نورو کورنيو د غچ اخيستلو په موخه رامينځته کيږي. د يوناما د بشري حقونو څانګې داسې پيښې ثبت کړي دي چې په هغو کې افغان ملي امنيتي ځواکونه او نړيوال پوځيان ملکي کسان له څو ورځو نيولې تر څو کلونو پورې تر توقيف لاندې ساتلي دي بې له دې چې توقيف شوي کسان په دې پوه شي چې د هغوي پر ضد څه ډول شواهد او مدارک وړاندې شوې دی او ددې توان يې هم نه درلود چې د هغو شواهدو او مدارکو پر ضد اعتراض وکړي او د هغوی کره توب تر پوښتنې لاندې راولي.

**د شپې له خوا د ترسره شويو تلاشيانو پر ضد لاريون**

د شپې له خوا تلاشي ګانې دومره د افغاني ټولنې د لېرې والی سبب ګرځېدلي دي چې اکثره د دغسې عملياتو وروسته لاريونونه شوي حتې په هغه حالاتو کې چې په عملياتو کې د حکومت مخالف عناصر هم وژل شوي او يا بنديان شوي وي. لاريونونه په سهيلي، سهيل ختيځ، مرکزي او ختيځو سيمو کې پيښ شوي دي. د راپوررونو له مخې د ځينو داسې لاريونونو شاته د حکومت مخالف عناصر ولاړ وو، په ځانګړی توګه په سهيلي سيمو کې. د ځينو لاريونونو په ترڅ کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ډير زيات ځواک د کارولو له امله د مرګ ژوبلې پيښې هم رامنځته شوي دي. د افغان ملي امنيتي ځواکونو په مشرۍ چې په ګډ د تلاشي عمليات د هلمند د ولايت د ګرمسير په ولسوالۍ کې تر سره شوې و د يو لړ لاريونونو لامل وګرځيد چې ويل شوې و چې ګوندې د عملياتو په ترڅ کې قرآن کريم ته سپکاوی شوې دی او همدا راز ادعاء کېده چې ګوندې هم پر يوې نجلۍ جنسي تيری شوی و. (چې وروسته بيا څرګنده شوه چې دا تورونه بې بنسټه و). د راپوررونو له مخې يو لاريون چې د حکومت د مخالفو عناصرو له خوا په لاره اچول شوی و، په پايله کې تاوتريخولی ته واوښت او د لومړنی لاريون چې د جنوري په ۱۲کې په لاره اچول شوی و، افغان ملي امنيتی ځواکونو ۸ ملکي کسان ووژل او ۱۶ نور کسان يې ټپيان کړل. په دوهم لاريون کې چې د جنورۍ په ۱۳ نيټه تر سره شو، نړيوالو پوځي ځواکونو او افغان ځواکونو پنځه ملکي کسان ژوبل کړل. ډير نور دا شان لاريونونه د هيواد په ګوټ ګوټ کې تر سره شوي دي

چې په ترڅ کې یې پر حکومت غږ شوی چې د شپې د تلاشیانو او بریدونو مخه ونیسي او د بدرفتارۍ عاملین دې عدالت ته وسپاري.

د کونړ ولایت د اسمار په ولسوالۍ کې د شپې له خوا د یوې تلاشۍ وروسته چې د امریکایي ځانګړو ځواکونو له خوا د مارچ په ۱۳ ترسره شوې وه یو لاریون وشو چې په ترڅ کې یې درې تنه ملکي کسان ووژل شول. د اپریل په ۲۵ نیټه د شپې له خوا د لوګر د ولایت د ناصر په کلي کې یوه تلاشي د درې کسانو د وژل کېدو سبب وګرځېده چې په راتلونکې ورځ د هغې له امله یو لاریون وشو. په دواړو حملو کې د حکومت مخالف شکمن عناصر ووژل شول. د اپریل په ۲۸ د پارلمان د یوې ښځینه غړې خپلوان په ننګرهار کې د شپې له خوا د تلاشۍ په نتیجه کې ووژل شول، سبا ته له هم دې امله یو لاریون وشو چې ګډونوالو په کې د امریکا پر ضد شعارونه ورکول. دشپې له خوادغه ناڅاپه برید (تلاشي) په ولسي جرګه کې هم وغندل شو.

حقوقي تحلیل: کله چې پوځي ځواکونه د يو نظامي شی پر ضد (لکه جنګياليو) حملې کوي نو نوموړې حملې باید د نړیوال بشردوستانه قانون سره په سمون کې تر سره شي، او دا دهغو مقرراتو او اصولو له مخې چې د هدف د تثبيتولو، تناسب، په حملو کې د احتیاط او نظامي اړتیاوو پورې اړه نیسي. کله چې نړیوال د يوې حملې پلان جوړوي، نو باید د هدف د "تثبیت" لپاره "ټول شوني شیان" تر سره شي څو ثابته کړي چې دا يو نظامي هدف دی او په کې د ملکي او جنګياليو وګړوترمنځ توپير وکړي او پر ملکي کسانو د حملې له کولو څخه ډډه شي.

**د خبرداری د نه مراعاتولو په صورت کی د زیاتي قوي د کاروني پيښي**

د زیات زورکارول هلته پيښيږي چېرته چې يوه ملکي نقليه واسطه د حکومت پلوو له خوا د دريدلو اشارو ته پام نه کوي چې په نتيجه کي يي د ملکي وګړو باندې مرګ ژوبله رامنځته کيږي. د يوناما د بشري حقونو څانګې د ۳۶ کسانو مرګ او د ۳۶ کسانو ټپي توب د ۲۰۱۰ په لومړيو شپږو مياشتو کي ثبت کړی دی چې د زيات زور د کارولو له امله رامنځته شوي دي. دا د ټولو هغو ملکي کسانو چې د حکومت پلوو ځواکونو له خوا وژل شوي، ۱۶ سلنه جوړوي، چې د ۲۰۰۹ د لومړيو شپږو مياشتو په ترڅ کې د زور د زیات استعمال له امله د مرګ ژوبلو په پيښو کې د ۱۲۵ زياتوالی څرګندوی دی. ملکي مرګ ژوبلې او د ټولنو له خوا د ځواکونو د ساتلو له تدابيرو څخه رابرسیره کيدونکو اندیښنو نړیوال ځواکونه د ۲۰۱۰ کال په فبروری کي دې ته وهڅول چې د زيات زور د کارولو په خپلو طرزالعملونو کي بياکتنه وکړي(د عملیات معیاري طرز العمل۳۷۳ (SoP)) چې دا د هغه کمپاين يوه برخه ده چې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلو د پيښو د ختمولو په موخه تر سره کيږي چې د د زياتی قوی د کارولو له امله راپيښيږي. تر ټولو نوی عملیاتي معیاري طرزالعملونه د فبروری په ۱۹ او بيا د اپريل په ۱۹ کي خپاره شول. نوموړی طرزالعملونه د زیات زور د کارولو د پيښو په اړه او د دي په باب چي آیساف باید په مختلفو وضعيتونو کي څرنګه په متناسبه توګه غبرګون وښيي، لارښوونې برابروي. عملياتي معیاري طرزالعملونه يو داسي چوکاټ رامينځته کوي چي د هغه پر اساس زور صرف د نښتي د مجازو ضوابطو پر اساس کارول کيږي. نوموړي لارښووني سرتيرو ته ښيي چي دا يقيني کړي چي د وضعيت د کنټرول د راوستلو لپاره د زور د کارولو پرته ټولي شوني هڅي تر سره شوي دي، او دا چي د ځايي مشرانو سره د مشوري په مرسته طرز العملونه د چاپيريال سره په سمون کي تنظيم شي، او که چېري ممکنه وي قطارونه د نښتي په صحنه کي پاتي شي څو د زور د استعمال د کمولو لپاره لاری چاري ولټوي او د خپلو اعمالو لپاره مسؤوليت ومني.
د زیات زور دکارولو ګڼي پيښي د دې له امله رامنځته شوي دی چي چلوونکي ګواکي په سيګنالونو باندي نه دي پوه شوي او يا يي سترګي ترې پټې کړې دي، او يا د سيګنالونو څخه هيڅ خبر نه وو او يا دا چي نړيوالو پوځي ځواکونو نا څرګندي اشاري ورکړي وی. که څه هم آیساف د زور د زياتولو د سيګنالونو په اړه ډيری عامه خبرتيايي کمپاينونه کړي دي خو له دې سره سره د ملکي کسانو د وژلو او ژوبلولو لړی لا دوام لري.

د يوناما د بشري حقونو څانګه يادونه کوي چي د زور د زياتولو پيښي په ډيرو کورنيو، ماشومانو او مسافرينو باندې چي په ملکي نقليه وسايطو کي موجود و منفي اغيزه کړي ده. د يوناما د بشري حقونو څانګي دا ثبت کړي ده چي د زور د زياتولو له امله پنځه ماشومان وژل شوي او يو ماشوم ژوبل شوی دی. د می د مياشتي په ۱۰ نړیوالو نظامی ځواکونو چي په يو کتار کي روان وو دوه ۲ کلن ماشومان يي د زرداد د غونډ په سيمه کي په داسي حال کي ووژل چي کورنی يي کابل خوا ته روانه وه. د اپريل په ۱۹ يو ماشوم او څلور ملکي کسان هغه وخت د خوست ولايت د ګربزو په ولسوالی کي ووژل شول چي د هغوي موټر نړيوال پوځي ځواکونو ته ډير ځان نږدې کړی و .

د اپریل په ۱۲ نړیوالو پوځي ځواکونو د کندهار د ولایت د ژیړی د ولسوالۍ د سنځری په سیمه کې د یوې ورځنۍ ګزمې په ترځ کې په یو بس باندې ډزې وکړې چې په نتیجه کې یې څلور ملکي کسان د یوې ځوانې نجلۍ په شمول ووژل، او ۱۸ نور ټپیان شول. د ډزو په وخت کې د بس د دقیق موقعیت په اړه، او یا دا چې کوم سیګنال ورکړل شوی وو یا نه، متناقض راپورونه خپاره شوي دي. آیساف د اپریل د ۱۲ د پېښې په اړه خپل مسؤولیت منلی وو،لکه څرنګه چې په همدغه تاریخ باندې د آیساف د ګډې قوماندانۍ په بیانیه کې راغلی و، د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د آیساف له خوا یو ګډ تحقیقاتي پلاوی سیمې ته استول شوی دی څو د پېښې په اړه څېړنې وکړي. د آیساف له قوله په دې اړه یو راپور هم خپور شوی وو، خو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته کومه کاپي نه وه برابره شوې. آیساف راپور ورکړ چې د راتلونکو پېښو د مخنیوي لپاره تدابیر نیول شوي وو، چې په هغو تدابیرو یې چې د ۲۰۰۹ کال د جولای د ۲ نېټې پر تاکتیکي لارښودونو یې بیا ټینګار درلود چې پر ملکي کسانو باندې د شخړې د اغیزې د کمولو په اړه دي، اوپه کې دزیات زور دکارولو د سیګنالو په اړه د عامو خبرتیاوو یو پراخ کمپاین، د نه وژونکو تدابیرو څخه کار اخیستل هم شامل و.

د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا نیول شوي اقدامات منظم او ثابت نه دي چې په نتیجه کې یې دډېرو قربانیان د سرګردانۍ، غضب او کرکې راپور ورکړی دی. په یوه نادره پېښه کې یو نظامي څارنوال د زور د زیاتولو د یوې قضیې په اړه څېړنې پیل کړې چې د مارچ په ۲۸ باندې د هرات د ګذرې د ولسوالۍ د افغان ملي اردو د تلاشي په یوې پوستې کې پېښه شوې وه چې په کې یو کس وژل شوی او دوه نور ټپیان شوي و. د جولای په لومړیو کې د افغان ملي اردو یو تن چې په داسې یوه پېښه کې ښکیل وو په شل کاله بند باندې محکوم شو.

<u>حقوقي تحلیل:</u> د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو دنړیوال قانون له مخې د ملکي کسانو په مقابل کې د وژونکی ځواک څخه کار اخیستل منع دي. کله چې جنګي عملیات ترسره کیږي د جګړې خواوې د ملکي کسانو چې د ژغورل شویو کسانو په ډول پېژندل کیږي، او هغو کسانو چې په مستقیمه توګه په جګړه کې برخه اخلي توپیر وکړي او پر ملکي کسانو له حملې څخه ډډه وکړي. د جنګي سیمې څخه د باندې د نړیوال بشري حقونو د قانون احکام همداراز نافذ دي. نوموړی احکام په لاندې وضعیتونو کې د وژونکی ځواک څخه کار اخیستل محدودوی :

(i) د خپل ځان، او د نورو څخه د مرګ او سختو ژوبلو د یو قریب الوقوع خطر په مقابل کې دفاع،

(ii) د یو ځانګړی خطرناک جرم مخنیوي چې د ژوند تهدید په کې شامل وي،

(iii) د هغسې کس ګرفتارول چې د دې ډول خطر په کې وې او د مقاماتو په وړاندې مقاومت ښیي، یا

(iv) د دې ډول کس، د تیښتې مخنیوي کول، او یا کله چې خفیف وسایل نه شي کولای چې نوموړی هدفونه تر سره کړي.

په هر حال، ناریه <u>وسلې</u> په عمدي ډول باید هلته وکارول شي چې ډیره اړینه وي او د ژوند د ژغورلو په موخه ترسره شي.

**هوايي بريدونه**

د یوناما د بشري حقونو څانګې ۲۲ هوايي حملې ثبت کړي دی چې د ۲۰۱۰ کال لومړیو شپږو میاشتو کې د ۱۱۴ ملکي کسانو د تلفاتو سبب ګرځيدلي دي (۶۹ ملکي کسان وژل شوي او ۴۵ نور ټپیان شوي) دی[26]. دا د ۲۰۰۹ کال د همدغې مودې په پرتله یوه چټکه راټیټیدنه څرګندوی چې په هغه موده کې ۱۹۱ ملکي کسان ووژل شول، او ۹۷ نور ټپیان شول. دا شمېرې د ملکي کسانو په وژل کېدو کې ۶۴ سلنه کمښت ښيي چې د ۲۰۰۹ کال د لومړیو شپږو میاشتو کې د هوايي حملو له امله رامینځته شول. که څه هم د یوناما د بشري حقونو څانګې ډیری کمې داسې پیښې ثبت کړې دی چې د هوایو حملو له امله رامینځته شوې وي، بیا د فبروی په میاشت کې د هوايي حملو له امله د ملکي کسانو تلفات په چټکی سره زیات شول او د جون په میاشت کې لږ زیاتوالی رامنځته شو چېرته چې په سهیل او ختیځ کې د حکومت د شکمنو مخالفو عناصرو پرضد بې شمیره هوایي حملې وشوې. په سهیلي سیمه کې د هوايي حملو له امله تر ټولو زیات ملکي تلفات (۳۹ مرګ) ثبت شول، او په ختیځه سیمه کې ۲۲ د مرګ حالات ثبت شوي دي. په داسې حال کې چې د هغو هوايي حملو شمیر چې د ملکي ځانی تلفاتو سبب ګرځيدلی د ټولو هوایی حملو په پرتله ډیر کم و، خو کله چې تلفات رامنځته کېږي نو د تلفاتو شمېر تر هر هغه نورو تاکتیکونو په پرتله چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا ترسره کېږي زیات دي.

| |
|---|
| د جون په ۱۸ د پکتیا په ولایت کې د کوشین سیمي موسی خیل ته څېرمه په پیری کې د حکومت ضد د شکمنو مخالفو عناصرو پر پټن ځایونو باندې هوایي حملې وشوې. د هوایي حملې د آوازونو په اوریدو سره د موسی خیل د کلي یوې کورنې خپل کور پرې ایښود او تر یوې ونې لاندې یې پناه واخیستله. هوایي حمله کې هغوي په نښه شول او ددغې کورنۍ مور سره د پنځو ماشومانو ووژله چې ټول ماشومان له دولسو کلونو څخه د کم عمر خاوندان و. په یوې بیانیه کې آیساف وویل چې د نښتي پخپلو عملیاتي تفصیلاتو کې بیاکتنه کوي. که څه هم د یوناما د بشري حقونو څانګې د آیساف نه په مکرره توګه غوښتنه کړې وه، خو په دې بریالی نه شوه چې د هغې بیاکتنې د پایلو په اړه معلومات تر لاسه کړي. |

د یوناما د بشري حقونو څانګې د خپل مخکینی راپور چې د ملکي کسانو د ژغورنې په اړه یې خپور کړی و، د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د هوایي حملو او هوایي بمباری له امله د تلفاتو په اړه ډیرې اندیښنې څرګندې کړې وی. د آیساف قوماندانی هڅه وکړه چې نوموړو اندیښنو ته د ۲۰۰۹ تاکتیکي لارښودونو له لارې رسیدګې وکړي چې په هغو کې تصریح شوی وه چې هوایي حملې کله او څرنګه باید تر سره شي او د تصمیم نیولو لپاره څه آرونه باید په نظر کې ونیول شي. له هغه وخته راهیسې د یوناما د بشري حقونو څانګې د هوایی حملو له امله په ملکي مرګ ژوبلو کې د پام وړ کمښت ثبت کړی دی، او د آیساف له قوماندانی څخه غوښتنه کوي چې نوی تاکتیکي لارښودونه چې د ۲۰۱۰ د آګست په ۴ کې د هوایي حملو د محدودولو په اړه صادر شوي و، په پوره ډول تطبیق کړي. په تحقیقاتو کې کافي شفافیت او د ملکي تلفاتو په مقابل کې چې د هوایي حملو له امله رامنځته کېږي حساب ورکوني ښایي د ملکي کسانو ژغورنې لا پیاوړې کړي.

---

26 د یوناما د بشري حقونو څانګې صرف هغه هوایي حملې ثبتوي او تحلیلوي یې چې ملکي تلفات ولري، او په یوه ځانګړی موده کې ترسره شوې ټول هوایي حملې نه ثبتوي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې په کونړ کې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا درې هوایي حملې ثبت کړي دی چې په پایله کې یې ۱۸ ښځې او یو ماشوم وژل شوې وو. د فبروري په ۱۱ د مانوګی د ولسوالی د کورانګل په سیمه کی د حکومت ضد شکمنو عناصرو پر یوه مرکز د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا یوه هوایي حمله وشوه چې د راپورونو له مخې په نتیجه کې یې څلور ښځې چې سهار وختي د لرګیو ټولولو لپاره وتلې وې، ووژلې شوې. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د مکررو غوښتنو سره سره، دا لا تر اوسه پورې نامعلومه ده چې آیا د آیساف سیمه ییزی قوماندانۍ په دې اړه کوم تحقیقات ترسره کړې دي که نه.

د فبروري په ۱۶ د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د حکومت مخالفو شکمنو عناصرو پر یوه قرارګاه باندې یوه هوایي حمله وشوه چې د راپورونو له مخې یوه اووه کسیزه کورنۍ یې ووژله چې پنځه تنه یې ماشومان و، او له پاکستانه افغانستان ته د کډوالو په توګه راروان وو. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د غوښتنې په ځواب کې آیساف وویل چې په نوموړې حمله کې هدایت شوې بمونه غورځول شوې و او صرف ۱۰ یاغیان وژل شوي دي چې له یوې معلومې نفوذي لارې له پاکستانه افغانستان ته د داخلیدو په حال کې و، او د آیساف د ښتې د ضوابطو سره سم لس واړه یاغیان ووژل شول، او نور کوم تلفات نه و رامنځته شوې. دا روښانه نه ده چې آیا د آیساف دا بیانیه د پیښې په اړه د څېړنو پر بنسټ ولاړه ده که نه.

د جون د میاشتې د ۲۷ او ۲۸ په منځ کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي ځواکونو د حکومت د مخالفو عناصرو پر ضد د ګډو عملیاتو په ترځ کې چې د کونړ د ولایت د مرورې په ولسوالی ترسره شوې وه نړیوالو پوځي ځواکونو د حکومت پر مخالفو شکمنو عناصرو باندې چې له یوې محلې، او یا له استوګنې دځای څخه ډزې کولې، یوه هوایي حمله تر سره کړه چې د راپورونو له مخې نوموړې هوایي حمله د پنځه کسانو د وژل کېدو سبب شوه چې له هغی جملې درې تنه ماشومان وو، او همدارنګه په نیتجه کې دوه ښځې او درې ماشومان ټپیان شول. د آیساف یوه بیانیه چې د جون په ۲۷ خپره شوې وه داسې وایي: "ګډو ځواکونو احتیاطي تدابیر نیولې و څو له ناغوښتو زیانونو څخه ډډه وشي او آیساف د ملکي کسانو ته د مرګ ژوبلې د اوښتلو کوم راپور نه دی ترلاسه کړی. " آیساف د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې یو مخکښ دتحقیق افسر سیمې ته سفر کړی خو لا تر اوسه پورې یې خپل د تفتیش راپور نه دی بشپړ کړی.

حقوقي تحلیل: هوايي حملې د نړیوال بشردوستانه قانون سره سمې ترسره کېږي چې د شخړې ټولې خواوې دې ته اړ باسي چې په ټولو حالاتو کې د ملکي کسانو او جنګیالیو تر منځ توپیر وکړي او ملکي وګړي او د هغوي شتمنۍ خوندي کړي. او په همدې اساس هیڅ ملکي ټولنې او یا ملکي اشخاص باید د حملو نښه و نه ګرځول شي. او حملې باید صرف او صرف نظامي شیانو ته متوجه شي. سربېره پر دې، په شخړې کې ښکیلې خواوې او د هغوی وسله وال غړي د جنګي میتودونو او وسیلو نامحدوده انتخابونه نه لري. دا منع ده چې د وسلې او جنګي میتودونو څخه په داسې یو ډول کار واخیستل شي چې ناغوښتلې تلفات او له حد زیات کړاوونه رامنځته کړي.

د نظامي عملیاتونو په ترسره کولو کې، باید دوامداره پاملرنه وشي څو د ملکي کسانو او ملکي شیانو ژغورنه وشي. وسله وال ځواکونه باید د ملکي کسانو د ژوبلولو او د ملکي شیانو له ویجاړولو څخه د ډډې کولو او یا په هر حال کې د ملکي کسانو ژوبلولو او شیانو ویجاړولو د کچې د راکمولو لپاره ټول شوني احتیاطي تدابیر ونیسي. دوي باید همداراز د جنګي وسیلو او میتودونو په غوره کولو کې باید په نظر کې ولري چې ملکي کسانو ته د اتفاقي ځاني تلفاتو اړولو، او ملکي کسانو ژوبلولو او ملکي شیانو ته له زیان رسولو ډډه وکړي او یا په هر حال یې د وراړول شویو زیانونو د کچې د راټیټولو لپاره ټول شوني احتیاطي تدابیر ونیسي.

د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم، خواوې باید د دې په ارزولو کې چې مه کړه یوه حمله د ملکي کسانو د اتفاقي ځاني تلفاتو لامل وګرځي، او یا ملکي کسان ژوبل کړي او یا ملکي شیانو ته زیان ورسوي، او یا د نوموړیو ټولو زیانونو یوځای د رسولو سبب وګرځي چې د تمه کېدونکي نظامي امتیازاتو په پرتله اضافي او غیر ضروري بریښي، ټولې شونې هڅې ترسره کړي. او وروستی دا چې په جګړه کې ښکیلې خواوې باید د هغو حملو په اړه چې ښایي پر ملکي کسانو باندې منفي اغیزه وکړي، موثر او د وخته مخکښې خبرتیا ورکړي، خو دا چې د دې کار د کولو لپاره حالات برابر نه وي.

**د مرګ ژوبلو او د شتمنیو د زیان په مقابل کې د خسارې جبران**

د ۲۰۰۸ کال راهیسې، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر ښاغلی لویس اربور په ګډون چې په ۲۰۰۷ کال له افغانستان څخه یې لیدنه کړې وه، ټول ژغورنیزو فعالانو پر آیساف او ناټو باندې غږ کړی و چې د هغو ملکي کسانو لپاره چې د جنګي عملیاتونو له امله شخصي زیان او د شتمنیو د ویجاړیدلو زیانونه یې ګاللي دي، د ملکي کسانو د خسارې د جبران واحد سیسټم تطبیق کړي. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۲۶ د ناټو مأموریت او نورو مأموریتونو په کې ګډون درلود آیساف په خپل غیر الزامي لارښودونو کې بیاکتنه وکړه چې په کې د خسارې مناسب جبران هم توضیح شوی وو. د دې بیاکتنې هدف دا وو چې د آیساف د ځواک ورکوونکو هیوادونو په منځ کې د خسارې د جبران موضوع مروجه شي چې دا بیاکتنه یوه ناپلان شوې او ناکافي بیاکتنه وه ځکه چې مختلف هیوادونه د پیسو د ورکولو مختلف میتودونه کاروي.

د جون په ۱۱ نیټه د شمالي اتلانتیک شورا نوموړي لارښودونه تصویب کړل[27]. د لارښودونو تمرکز په دې دی چې د جګړې په ترځ کې د ملکي تلفاتو او د ملکي کسانو شتمنیو ته د اوښتو زیانونو تصدیق وشي. نوموړې لارښودونه د سرتیرو څخه غواړي چې د آیساف د ملکي کسانو د تلفاتو د څرک معلوملو دفتر لپاره د ملکي تلفاتو، او د ملکي کسانو شتمنیو ته د وراوښتو زیانونو پیښې د امکان په صورت وڅیړي.[28] او په فعاله توګه د اشخاصو او د ټولنو د زیانونو په اړه همکاري وکړي او په پروسه کې د شفافیت او حساب ورکونې موضوع یقیني کړي. د لارښودونو پر وخت او په اغیزمن ډول پلي کول باید د آیساف د قوماندانۍ او دسرتیرو ورکوونکو هیوادونو د اجندا په سر کې پاتې شي.

---

[27] تمه کېږي چې د ا غیر الزامي لارښودونه د ۲۰۱۰ کال د آګست په ۶ کې خپاره شي.

[28] د ملکي کسانو د تلفاتو د څرک معلوملو دفتر د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په میاشتې په آیساف کې جوړ شوی و. د یوناما د بشري حقونو څانګې ته معلومات رارسیدلي دي چې د ملکي تلفاتو د څرک معلوملو دفتر اوس پرخپلو فعالیتونو بیاکتنه کوي.

**د ملکي تلفاتو په وړاندې د افغانستان د حکومت غبرګون**

د حکومت پلوه ځواکونو او د حکومت ضد عناصرو له خوا وراړول شوي ملکي تلفات، او پر ملکي کسانو باندي د هغوي د عملیاتونو له امله منفي اغیزې، د افغان ملکي وګړو او د افغان حکومت لپاره یوه مهمه اندیښنه ده. ولسمشر کرزی په مکرره توګه له نړیوالو پوځي ځواکونو څخه غوښتي چې د شپې تلاشۍ اوهوایي حملې بندې کړي او د توقیف ځایونو کنټرول دې افغان حکومت ته وسپاري. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ د میاشتې د افغانستان د پارلمان د پرانیستلو په ترڅ کې ولسمشر کرزی وویل چې ناټو باید لا زیاتې هڅې وکړي څود ملکي تلفاتو مخنیوی وشي، او اعتراف یې وکړ چې د ملکي تلفاتو په راکمونه کې پرمختګ شوی دی. په ځانګړی ډول په هغو تلفاتو کې چې د هوایي حملو له امله رامنځته کیږي. د ۲۰۱۰ په می کې د امریکا له متحده ایالاتو څخه د لېدنې پر مهال، ولسمشر کرزي د شپې له خوا د تلاشیو د پای ته رسولو یو ځل بیا غوښتنه وکړه. د جولای د ۲۰ د کابل د نړیوال کنفرانس وروستۍ اعلامیې په ډاګه کړه چې "...ملکي تلفات او د ملکي کسانو ساتنه تر ټولوستره اندیښنه ده او یادونه یې وکړه چې زیاتره ملکي تلفات د یاغیانو د برېدونو له امله رامنځته کیږي. ګډونوالو د هر افغان او نړیوال ملکي وژنه وغندله، او افغان او نړیوال پوځي ځواکونه به د ملکي تلفاتو د کچې د دوامداره راکمولو موخې ته ژمن پاتې شي."[29]

ولسي او د مشرانو دواړو جرګو په مکرر ډول د ملکي تلفاتو مسأله، د حکومت ضد عناصرو او د حکومت پلوه ځواکونو عملیاتونه، او د افغان حکومت او نړیوالو پوځي ځواکونو د ملکي کسانو د ژغورنې ناتواني، او د ملکي تلفاتو د پیښو په اړه د شفافو او بشپړو څېړنو اړ تیا تر بحث لاندې نیولې ده.

د ملکي تلفاتو د عمده پیښو د څېړلو لپاره حکومت زیاتره ناپلان شوې څېړنې ترسره کوي. دغه څېړنې زیاتره د ولایت په کچه ترسره او په پراخه کچه د رسنیو له لارې خپرېږي. په حکومتي څېړنو کې معمولا د حکومت ملکي او امنیتي پلاوې شامل وي، او زیاتره د حقیقت موندنې د مأموریت په څیر دنده ترسره کوي. کله چې څېړنې بشپړې شي، معمولاً په لنډ وخت کې د څېړنو کمیټه راپور خپروي (چې زیاتره عام نه وي) چې موندنې توحیدوي او ولسمشر ته یې استوي. دا روښانه نه ده چې د دغو څېړنو پر مهال کوم کړندودونه او آرونه په پام کې نیول کیږي او له هغې وروسته څه پېښیږي. په ځینو پیښو کې چې د یوناما د بشري حقونو څانګې څارلې، ولسمشر کرزی ځپل شویو کورنیو ته د ولسمشر د صلاحدید له بودجې څخه د خسارې جبران ورکړی دی. د ملکي کسانو د ژغورنې د پیاوړی کولو لپاره، د یوناما د بشري حقونو څانګه وړاندیز کوي چې حکومت باید په منظم ډول چېرې چې شونې وي، د ملکي تلفاتو ټولې سترې پیښې وڅیړي، او د ناپلان شوو طرزالعملونو پر ځای معیاري طرزالعملونه غوره کړي. سربېره پر دې، حکومت باید د څېړنو، مأموریت، په څېړنو کې د ښکیلو کسانو، او وروستي راپور لپاره کړندودونه او آرونه تشخیص او عام کړي، او دا یقیني کړي چې هره څېړنه په مفصله او شفافه توګه د عدلي طب د تخصصي معیارونو سره سمه ترسره کیږي، او د څېړنو راپور او د تعقیب کمیټې ته د کورنیو لاسرسی خوندي کړي.

**حساب ورکونه**

د آیساف په چوکاټ کې د پوځیانو د مرسته کوونکو هیوادونو په ګډون، ټول هیوادونه نړیوال عمومی مسولیت لري چې د نړیوالو بشری حقونو او یا هم د نړیوال بشردوستانه قانون څخه د خپلو سرتیرو او ملکیانوله خوا د تر سره شوو سرغړونو په اړه باوري، شفاف او بی پرې تحقیق تر سره کړي. دغه مسوولیت هغه هیوادونو ته چې یوازی عمل کوي او یا هم د آیساف په چوکاټ کې د ګڼ ملیتی پوځونو په چوکاټ کې عمل کوي، یو شان دی. اړتیا ده چې دا ډول څېړنې یا د انفرادی هیواد په ذریعه او یا هم که چیري کافی میکانیزم شتون ولري د تیار شویو میکانیزمونو له لارې، چې د ګڼ ملیتی ځواکونو په واسطه رامنځته شوي دي، تر سره شي.

که څه هم آیساف د هغو لارښودونو او ډایریکیتفونو د لارې چې په ملکي وګړو باندي د جګړې اغیزې را کمې کړي معقول تدابیر نیولي دي، خو د یوناما د بشری حقونو څانګې مشاهده کړې ده چې د ملکی تلفاتو لپاره پیاوړې احتساب او شفافیت به نور هم د ملکي کسانو ساتنه ښه کړي او په پایله کې به د ملکی کسانو په مرګ ژوبله کې ستر کموالی راشي. د یوناما د بشري حقونو څانګې لیدلي دي کوم وخت چې نړیوالو ځواکونو څېړنې اعلان او تر لاس لاندې نیولې دي، خو د څېړنو د پایلو په اړه ډېر لږ معلومات او توضیحات چمتو او د لاسرسی وړ ګرځیدلی

[29] د کابل کنفرانس اعلامیه، ۶ مخ چې د افغانستان په اړه د ۲۰۱۰ د جولای ۲۰ نیټې په نړیوال کنفرانس کې چې په کابل کې جوړ شو، خپره شوې ده.

دي. د ځېړنو پايلې ډېرى يې اکثره وخت خپرې شوې نه دي. د يوناما د بشرى حقونو څانگې يوازې داسې څو قضيې ثبت کړي دی چې په هغو کې د ځېړنو يوه برخه نشر شوې ده . قربانيانو او اغيزمن شوو ټولنو ته اکثره وخت معلومات نه دي ورکړل شوي چې آيا د قومندانانو په گډون د ټولو هغو کسانو پر ضد چې د ملکی تلفاتو مسووليت په غاړه لري، کوم انضباطی او يا بل عمل تر سره شوی او که نه. د ملکی کسانو د لا ښې ساتنې په موخه، د ځېړنې او احتساب هره پروسه بايد دا ډاډمنه کړي چې په شفافه طريقه باوري ځېړنې تره سره شي، او چيرته چې مناسبه وي، په زيانمن شوي ځاي کې توضيحات ورکړل شي او معذرت وغوښتل شي. د هغو کسانو پر ضد چې د پوځي او يا داخلی قانون څخه په تيري کولو گرم وموندل شي، تاديبی تدبيرونه ونيول شي.

د يوناما د بشري حقونو څانگې دا هم يادابښت کړې ده چې نړيوال ځواکونه اکثره وخت د ځانگړو ځواکونو او يا هم د حکومتی اړوندو پوځي ډلو د فعاليتونو په اړه چې د ملکی تلفاتو سبب گرځي، په عام ډول راپور نه ورکوي. د جگړې څخه په اغيزمن شويو سيمو کې د ملکي کسانو ساتنه به هغه وخت لا پسې ښه شي که چيري ټول ځانگړي ځواکونه د يو ستر احتساب او شفافې پروسې سره مخامخ شي. د يوناما د بشرى حقونو څانگې ته راپور ورکړ شوی دی چې د شپې له خوا په تر سره شويو بريدونو کې داسی گټه ور معلومات تر لاسه شوي دي چې د نورو بريدونو څخه يې مخنيوی کړی دی، خو دغه پايلې ټولنو ته نه دي رسول شوي چې په نتيجه کې د دوامدارې کرکی سبب شوي. د يو شمير مړينو او ژوبلو پر بنسټ چې تر اوسه هم د شپې په بريدونو کې واقع کيږي، د يوناما د بشري حقونو څانگه انديښمنه ده او که د ممکنه بديلونو څخه کار اخيستل ناکامه شي، چې په حقيقت کې د ملکی کسانو درناوي گڼل کيږي، د لا زياتو کسانو د ژوند د لاسه ورکولو سبب به شي.

د فبروري د مياشتې په ۲۱نيټه د يو هوايی بريد په اړه د متحده ايالاتو ځېړنې، چې د ارزگان ولايت د چارچينو د ولسوالی په سورکی سيمه کې د دريو نقليه وسيلو کتار يې تر بريد لاندې ونيولو او په پايله کې لږ تر لږه ۲۱ تنه ملکيان ووژل شول او ۱۴ تنه نور ژوبل شول، د گډونکوونکو له خوايې يو شمير تيروتنې او حذفونې په ډاگه کړې. دغه کتار داخلی بی ځايه شوي کسان بيرته خپلې سيمې، سورکی ته وړل چې د تيرو جگړو له امله بې ځايه شوي و. جنرال مک کرستال د دغه ملکی تلفاتو له امله د فبروری په ۲۳ نيټه معذرت وغوښتلو او همدارنگه د می د مياشتې په ۲۹ نيټه په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو د دغې پيښې په اړه د متحده ايالاتو ليکل شوې موندنی خپرې کړې. د ځېړنې په موندنو کې داسی راغلي دي: د يرغل کوونکې عملې له خوا د ناسم او غير مسلکی راپور ورکولو سره؛ ځمکنی قومندان ته ټول موجود شواهد او تحليلونه نه وو چمتو شوي چې دغه وسايط دښمنانه گواښ نه دی،، او دغه معلومات چې کتار د بريد د ځواک څخه پرته کوم بل څه دي چې دا د يرغليزې عملې له خوا يا له نظره غورځول شوی او يا هم کم ارزښته گڼل شوي،، په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو د مطبوعاتی اعلاميی پر بنسټ جنرال مک کرستال څلورو افسرانو ته د رټنې يادداښت،، او دوو افسرانو ته اخطاريه يادداښت،، صادر کړی دی .(د متحده ايالاتو په پوځی قضايی سيسټم کې دغه ډول يادداښتونه، د غير قضايی مجازاتو ډولونه دي.) د افغانستان دولت او په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو د دغی پيښې د قربانيانو خپلوانو ته د تاوان د تلافی غرامت ورکړ.

د ۲۰۱۰ کال د می د مياشتی د ۲۰ نيټې د اعلاميې پر بنسټ په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو د هغو ادعاگانو په اړه جنايي ځېړنې پيل کړې چې د امريکې د متحده ايالاتو پو ځيان لږ تر لږه د دريو غير قانونی وژنو لپاره مسوول دي. د راپورونو پر بنسټ دغه عسکر د ۵ نمبر د سترايکر د لواء د ۲ پلې ځواک منسوبين و چې د کندهار په ولايت کې يی عمليات کول. د رسنيو د راپورونو پر بنسټ ۵ تنه عسکر په عمدی وژنه تورن شول او دوه تنه نور په دريو جلا د يرغل په پيښو کې تورن گڼل شوي دي .

**د افغانستان د ملی امنيتی ځواکونو او د حکومت پلوه وسله والو ډلو احتساب**

د رسنيو د راپورونو پر بنسټ، د می د مياشتې په نيمايی کې، يو افغان پوځی څارنوال د امريکا د ځانگړو ځواکونو د يو افسر د گرفتارۍ امر صادر کړ چې د يوې ډلې افغانانو قومانده يې کوله چې د قندهار د ضربتی قوې په نامه ياديږی. ويل کيږي چې د قندهار ضربتی قوه د متحده ايالاتو د ځواکونو له خوا روزل شوې ده او د دوي له خوا تمويليږي. د دغه ډلې غړو د قندهارد ولايت د پوليسو قومندان او جنايی آمر د ۲۰۰۹ کال د جون د مياشتې په ۲۹ نيټه په ډزو هغه مهال ووژل کله چې دوي غوښتل د خپلی ډلې يو تن د توقيف څخه خوشې کړي. د قندهار ولايت امنيتی ځواکونو د قضيې په اړه ۴۱ تنه توقيف کړي دي . د دغې قضيی ابتدايی جنايی مسولې محکمې څلور تنه په اعدام او پاتې ۳۷ تنه په اوږد مهاله بند محکوم کړل. د څارنوالۍ د تحقيق د رياست د مشر د وينا پر بنسټ، يو مکتوب بهرنيو چارو وزارت ته استول شوی دی او په هغه کې د امريکايی ځانگړی ځواک د ياد شوي افسر د

عدلی تعقیب غوښتنه شوې ده . د د عدلي تعقیب د تفتیش د ریاست رئیس د یوناما د بشری حقونو څانګې ته ووېل چې تر اوسه دوي د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د خپل مکتوب ځواب نه دی تر لاسه کړی.

د هغو اسنادو پر بنسټ چې د یوناما د بشری حقونو څانګې تر لاسه کړي دي دا جوتوي چې د افغانستان د ملی امنیتی ځواکونو سره د تخطی په صورت کې ډېر احتساب کیږي. د ساري په ډول وروسته له هغه چې د مارچ په ۱۳ نیټه د ارزګان د ولایت د ترینکوټ په ولسوالی کې د یوې شخصي امنیتی کمپنی موټر چې د دغه کمپنی محافظین یې انتقالول د سړک د غاړې په بم وچاودید او یو کس ټپی او ۵ تنه ووژل شول، د کمپنی محافظینو سړک بند کړ او د موټرانو تلاشي یې پیل کړه . په دغې تلاشيیکې دوې یو موټروان ووژلو چې دوي سره یی دلیل ویلو. د یوناما د بشری حقونو څانګې په پر له پسی ډول د پیښی مساله د ولایتی پولیسو سره شریکوله خو هیڅ ډول کومه څیړنه تر سره نه شوه .

د اپریل په ۴ نیټه د ارزګان ولایت د ترینکوټ په ولسوالی کې د پولیسو یو موټر پر چاودیدونکو توکو باندې وخوت چې د یو افسر د وژلو سبب شو. د موثقو راپورونو پر بنسټ د یو تن ځایی زورواکی مسلحو کسانو چې د پولیسو سره یې اړیکه درلودله، د یو مظنون کس کور ته ننوت، هغه یې ووژلو، په کور کې یې څو لاسی بمونه و غورځول او د هغه مړی یی د موټر په ذریعه را کښ کړ. د مړ شوي کس کورنی ته ګواښ شوی چې باید سیمه پریږدي . په داسې حال کې چې یوناما دغه پیښه د دواړو د ولایتی پولیسو او همدارنګه د ځایی زورواکی سره شریکه کړله، تر اوسه یعنی د می د میاشتې تر ۲۵ نیټې پورې هیڅ کومه څیړنه نه ده تر سره شوی .

د ملکی کسانو د تلفاتو په اړه عمومی احتساب ډېر مهم د ی ځکه د قربانیانو کورنی دا حق لري چې پوه شی ولې دغه عملیات تر سره شول، ولې وژنې او ژوبلې را منځته شوې او آیا هغه ملکی کسان چې وژل شوې او یا هم ټپی شوي دی دوي مسوول کسان و او که نه. مظاهرې ځکه تر سره کیږي چې افغانان د پوځی عملیاتو په پایله کې د ملکی کسانو د تلفاتو په اړه په غصه کیږي او غواړي چې خپله نا هیلي رابرسیره کړي چې ولې د عملیاتو په هکله، د شپې له خوا د بریدونو په ګډون، معلومات شتون نه لري. که چیري زیات شفافیت شتون ولري نو به د ځایی ټولنو د لړی غصې او کرکې سبب شی او د ملکیانو تحفظ به هم لا پسی ښه شي. د یوناما د بشری حقونو د څانګې او د لوګر او وردګو د ولایتونو د مشرانو سره د خبرو اترو په دوران کې دوي ووېل چې لومړیتوب دا دی چې دوي د پوځي عملیاتو په دوران کې د ملکی کسانو د وژلو او ټپي کېدلو د معافیت دود ته د پای ټکی کیږدي او هغه کسان چې دغه ډول تخطي ګانې تر سره کوي باید مسوو ل وګڼل شي.

# ضمیمه

## د ملکي تلفاتو په اړه اضافي ګرافونه

د ۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د مړینو ثبت شوی شمیر




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2007: Total = 684 | 50 | 45 | 104 | 85 | 147 | 253 |
| 2008: Total = 818 | 56 | 168 | 122 | 136 | 164 | 172 |
| 2009: Total = 1054 | 141 | 149 | 129 | 128 | 271 | 236 |
| 2010: Total: = 1271 | 173 | 197 | 198 | 211 | 166 | 326 |

د ۲۰۱۰ په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د مړینو ثبت شوی شمیر، په جنګ کې د ښکیلو خواوو او میاشتو پر بنسټ




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun |
|---|---|---|---|---|---|---|
| AGE: Total = 920 | 120 | 98 | 172 | 139 | 119 | 272 |
| PGF: Total = 223 | 40 | 81 | 11 | 35 | 22 | 34 |
| Other: Total = 128 | 13 | 18 | 15 | 37 | 25 | 20 |

د ۲۰۱۰ په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د مړینو ثبت شوی شمیر، د سیمې پر بنسټ

